مجله علمی سلام

Salam Academic Journal

*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af

څلورم کال، اوومه او اتمه ګڼه، د منی ۱۳۹۸ هـ.ش

ISSN: 3078-9583 (Online) ISSN: 3078-9575 (Print)

د خپرېدو نېټه: ۱۳۹۸/۰۹/۱۶ پاڼې: ۳۶ د ۵ څخه تر ۴۰ پورې

# ښه حکومت داری د معاصر سیاسی فکر په رڼا کی

# Th Good governance in the light of contemporary political thought

DOI: 10.64104/v4.Issue7-8.n1.2019

پوهنوال دکتور مصباح الله عبدالباقی[1]

ORCID: https://orcid.org/0009-0004-4224-2339

## لنډیز

د ښه حکومتولۍ په هکله: څنګه چې د پرمختللو هېوادونو لپاره د ښه حکومتولۍ مفهوم مهم دی، همداشان د پرمختیایي هېوادونو لپاره هم مهم دی. د مضمون له پلوه، ځینې نړیوالې مؤسسې په اقتصادي توګه ورته کتنه کوي، پداسې حال کې چې نورې يې په سیاسي توګه ګوري. په دواړو لیدلورو کې، د استبداد کچه کمول، ټاکنیزې حکومتونه شتون لرل، او د ټولنې د ټولو برخو په ځانګړې توګه کمزورو او بې وزلو کسانو د خپل ژوند په اړه پرېکړو کې ګډون، د دوی د استعدادونو او توانونو څخه د ګټنې لپاره په عادلانه توګه فرصتونو برابروي، په عادلانه توګه قوانینو جوړول او د هر چا لپاره يې په یو شان پلي کول، او د مالي، اداري او سیاسي فساد سره مبارزه د ښه حکومتولۍ د مهمو عناصرو څخه شمېرل کېږي.

د اقتصادي پرمختګ اصلي هدف د انسانانو د اوږد مهاله پرمختګ ترلاسه کول دي، کوم چې ریښتیایی پرمختګ دی. څکه که چېرې د انسان ژوند د ښه والي په لور و نه ګرځي، نو په یوه هېواد کې د سرچینو او پیسو شتون د دې معنی نه لري چې هغه هېواد پرمختللی او پراختیایي دی.

د ښه حکومتولۍ تاسیس او رامنځته کول یوازې د حکومتونو دنده او کار نه دی، بلکې مدني ټولنې او خصوصي مؤسساتو هم باید په دې لاسته راوړنه کې برخه واخلي. همدارنګه، ښه حکومتولۍ یوازې هېوادونو ته اړتیا نلري، بلکې خصوصي مؤسسات او شرکتونو ته هم په خپل منځ کې د ښه حکومتولۍ اړتیا ده.

دا مقاله په تفصیل سره دې ټولو مسایلو ته پرداه اچولې او په پای کې مقاله داسې ټینګار کوي چې د ښه حکومتولۍ اصلي هدف د انسانانو د اوږد مهاله پرمختګ دی.

**کلیدي کلیمې: ښه حکومت داری، سیاسی فکر، دیموکراسی، استبدادی تعامل، قانون**

[1]. رئیس پوهنتون سلام، +93771694474، Misbah.abdulbaqi@gmail.com

**پیلیزه**

الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید الأنبیاء والمرسلین وعلی آله و أصحابه اجمعین، وبعد.

ښه حکومت داري ـ سره له دې چې د نیو لیبرالیزم په فکري چاپیریال کې را منځته شوی یو تصور دی او د هماغی فکري او فلسفي فضاء څخه متأثر دی ـ خو ددې سره سره ډېر مثبت اړخونه هم لري، موږ ته په خپله ټولنه کې د نورو افکارو په څیر ددې فکر د مثبتو اړخونو څخه استفاده پکار ده، او هغه اړخونه چې زموږ د دین د ارزښتونو سره په ټکر کې دي د هغه تعدیل ته اړتیا ده، او دا ځکه چې مسلمانان په دې قائل دي چې (الحکمة ضالة المؤمن فحیث وجدها فهو أحق بها) [2] د حکمت خبره د مؤمن ورک شوی شی دی په هر ځای کی یې چې پیدا کړ هغه تر هر چا زیات د هغه د اخیستلو او لاس ته راوړلو حق دار دی، ددې استفادې لپاره تر هر څه دمخه د داسی مفاهیمو فهم اړین او ضروري دی، او دی ته اړتیا لیدل کیږي چې ددې فکر مثبت اړخونه په مختلفو لارو په ټولنه کی مطرح او ترویج کړی شي.

په دې تصور کې بنسټیزې خبرې د استبداد راکمول، د انتخاب له لارې حکومتونه جوړول، د ټولنې ټول وګړي او په ځانګړې توګه کمزوې طبقه د خپل ژوند په اړه پریکړو او فیصلو کې شریکول، په عادلانه توګه د هیواد ټولو اتباعو ته د خپلو استعدادونو څخه د کار اخیستلو فرصتونه چمتو کول، ښه او مناسبه قانون سازي او د قانون بې پرې پلې کول، د قانون پر وړاندې د ټولو خلکو برابري، ددې ترڅنګ د مالي، اداري، او سیاسي فساد پر ضد مبارزه کول دي، او دا چې اصلا د اقتصادي ودې او پرمختګ بنسټیزه موخه بشري دوامدار پرمختګ لاس ته راوړل دي، همدا اصلي پرمختګ دی، که د انسان ژوند مثبت لور ته بدلون ونه مومي که یو هیواد هر څومره زیرمې او شتمنی ولري هغه په حقیقت کی پرمخ تللی نه دی، چې موږ ددې ډول هیوادونو ډېر بیلګې په اسلامي نړۍ کې وینو، دا هغه مبادئ دي چې اسلام یې تر هر چا دمخه مني او د همداسی یو حالت د رامنځ ته کولو لپاره کار د مسلمانانو مسؤولیت ګڼي، او په دې اړه بې شمیره نصوص په قران کریم او نبوي سنتو کی وجود لري، خو شاید د آزادۍ هغه تصور چې ددې تصور له لارې ورکړ شوی دی، او همدا راز د حقوقو هغه لامحدودیت چې د عام لیبرال یا ازاد پالی فکر ځانګړتیا ده هغه به د اسلامي فکر په چوکاټ کی تعدیل ته اړتیا ولري.

خو د ښه حکومت دارۍ د موخو د لاس ته راوړلو لپاره چې کوم میکانیزم وړاندې شوی دی چې باید د حکومتونو هغه تقلیدي او کلاسیک مسؤولیتونه را محدود کړی شي، ددې ترڅنګ په اوسنۍ دیموکراسۍ کې چې کوم نقائص او کمي موجودې دي د هغه د رفع کولو او د حکومت د شریک په حیث باید ددې اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره خصوصي سکتور او مدني ټولنو ته داسې رول ورکړی شي چې هغه د ښه حکومت دارۍ په رامنځ ته کولو کې د حکومت د شریکانو په حیث کار وکړي، دا میکانیزم تر کومې کچې کار ورکولی شي، او تر کومه حده کامیاب دی؟ او آیا په وروسته پاتې یا مخ په پرمختګ هیوادونو کی چې د اسلامي نړۍ هیوادونه هم له همدې جملې څخه دي، دا میکانیزم کار ورکولی شي؟ دا هغه بحثونه دي چې باید ادامه وموميٍ، اسلامي نړۍ د خپلو ظروفو او حالاتو سره سم داسې میکانیزمونه را ایجاد کړي چې په درست ډول یې ټاکلو موخو ته ورسوي.

یوه بله خبره چې دلته یې اړینه بولم هغه دا ده چې په وروسته پاتې هیوادونو کې او په ځانګړې توګه زموږ په ګران هیواد کې د ښه حکومت دارۍ خبره په یو څو ظاهري او فرمایشي کارونو کې راخلاصه کیږي، او ددې د مثبت اړخونو د عملي

[2] - د حدیث سند سره له دې چې ضعیف دی خو خبره په کښې پخه شوې ده، ترمذي او ابن ماجه او نورو حدیثي کتابونو کې روایت شوی دی.

کولو پر ځای (لکه د اداري، مالي او سیاسي فساد مخنیوی د محسوبیت ختمول او په عادلانه توګه د هیواد ټولو وګړو ته د پرمختګ زمینه برابرول) په دی نوم داسی کارونه سرته رسیږي چی یا خو اصلا د ملت د سالمو عنعناتو او عقائدو سره په ټکر کی وي او یا داسی بی محتوی کړنی وي چی هیڅ ډول عملي پایلی نه لری، او په دی توګه د ښه حکومت دارۍ مثبت اړخونه هم دداسی کړنو څخه اغیزمن کیږي، او ګټه یې چی بشري پرمختګ دي د هیواد اتباعو ته نه رسیږي.

یوه خبره چی باید ورته پاملرنه وکړو هغه دا ده چی ښه حکومت داري یواځی دولتي اداری پوری اړه نه لري، بلکه ښه حکومت داري په مؤسساتو، شرکتونو، سیمئزو ادارو کی هم د پلی کیدو وړ ده، همدا راز په نړیوال نظام هم د تطبیق وړ ده، که د هیوادونو سره عادلانه د قانون سره سم، او د هغوي په ګډون تصمیمونه ونه نیول شي هماغه ستونزی چی د یو هیواد په دننه کی پیښیدلی شي عین مشکلات او ستونزی په نړیوال نظام کی هم رامنځ ته کیدلی شي، همدا راز که په مؤسساتو، شرکتونو او د مدني ټولنو په مؤسساتو کی ښه حکومت داري رعایت نه شي عین ستونزی چی په یو هیواد او نړیوال نظام کی رامنځ ته کیږي په دی مؤسساتو او ادارو کی هم رامنځ ته کیدلی شي.

په پیل کی ما غوښتل چی معاصر سیاسی فکر کی د ښه حکومت دارۍ تصور د هغه تصور سره پرتله کړم چی اسلام یې لري او د راشده خلافت د ځانګړتیاو په شکل کی مسلمانو مفکرینو پری ډیر څه لیکلی دي، او هغه میکانیزم هم پرتله کړم چی په نیو لیبرالیزم یا ازاد پالۍ کی د ښه حکومت دارۍ د تطبیق لپاره وړاندی شوی او هغه چی اسلامي طرز حکومت یې وړاندی کوي[3]، خو کله چی بحث اوږد شو نو دا کار می یو بل فرصت ته پریښوده او یواځی په دی مو بسنه وکړه چی په اوسني سیاسی فکر کی ښه حکومت داري معرفي کړو، الله تعالی دی موږ ته توفیق را په نصیب کړي چی د هر فکر د مثبتو اړخونو څخه استفاده وکړو او د نیوکی په نتیجه کی د هر فکر منفي اړخونه تثبیت او د هغوي څخه خپله ټولنه وساتلی شو.

### لومړی: ښه حکومت داری، ارزښت او تاریخی شالید

ښه حکومت داری چی په انګلیسی کی ورته (Good Governance) ویل کیږي، دا په لویدیز کی په دی اوسني مفهوم کی د لومړي ځل لپاره د تیری میلادي پیړۍ په اتیایمه لسیزه کی مطرح شوه، د ښه حکومت دارۍ تصور د عامه اداری (حکومت) په اړه کومه نوی طریقه او کوم نوی فکر نه دی، بلکه دا د نوو واقعیتونو او هغه بدلونونو او تغییراتو انعکاس دی چی په اقتصادي، ټولنیز، سیاسي او فرهنګی ډګرنو کی ورسره نړۍ مخ شوه او په نتیجه کی یې د لیبرال دیموکراسۍ یو څه کمی یا نقائص را څرګند شول، ددی کمیو د رغونی لپاره د ښه حکومت دارۍ تصور رامنځ ته شو چی د پرمختللو او مخ په پرمختګ دواړه هیوادونو لپاره په جلا جلا توګه اهمیت لري.

### د پرمخ تللو هیوادونو لپاره یې اهمیت

هغه نړیوال او سیمیز چلینجونه چی غربي ټولنه ورسره مخ شوه او په ځانګړی توګه کله چی د نړیوالتوب (Globalization) تصور په رامنځ ته کیدو سره دا لاندی حالات هم رامنځ ته شول:

- د بشر د حقوقو او دیموکراتیکو ارزښتونو نړیوالتوب.
- د اقتصاد بازار د افکارو او میکانیزمونو نړیوالتوب.

---

[3] - په ډیره خلاصه توګه ویلی شو چی د اهلیت پر بنسټ د کار اهلیت لرونکو او وړتیا لرونکو خلکو ته کار سپارل هغه بنسټیز اصل دی چی د ښه حکومت دارۍ لپاره پری اسلام تأکید کوي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: (إذا وُسِّدَ الأمرُ إلى غير أهله فانتظر الساعة) کله چی نا اهله خلکو ته مسؤولیت وسپارل شي نو بیا د ګډوډۍ (یا د فساد د اخیري کچی د کوم حالت نه چی وروسته بیا د خیر توقع نشته او قیامت قائمیږي) انتظار وکړه.

- د تکنالوژۍ پرمختګ چې په نتیجه کې یې بازار نړیوال شو او معلوماتی انقلاب رامنځ ته شو چې د نړۍ په کچه ورته هر چا لاس رسی پیدا کړ.
- د ټولنو دې پراختیا د هیواد د اتباعو سره د حکومتونو فاصله زیاته کړه، حکومتونه په دې نه توانیدل چې د هر وګړي سره مخامخ تفاهم وکړی شي، د مصیري تصمیمونو په اړه د هغوي رأی واخیستلی شي، په مهمو قضایاو کې د هغوي ګډون یقیني کړی شي، نو دې ته اړتیا ولیدل شوه چې د نمایندګانو (Representatives) له لارې دا ستونزه حل کړي، نو دلته وه چې دا تصور رامنځ ته شو چې حکومت باید د افرادو پرځای د مدني ټولنو د لویو نماینده مؤسساتو سره تعامل وکړي، دلته وه چې د ښه حکومت دارۍ اهمیت اختیار کړ چې حکومت باید څرنګه د ټولنیزو مؤسساتو سره تعامل وکړي، او دا ټولنې پخپله باید د ټولنې د وګړو او د هیواد د اتباعو سره څرنګه تعامل ولري، او په داسې یوه نړۍ کې چې هلته ورځ په ورځ پیچیده ګیانې زیاتیږي څرنګه باید تصمیمونه ونیول شي او څرنګه فیصلې وشي.
- ددې ټولو سیاسی، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګی بدلونونو او تغییراتو په رامنځ ته کیدو د حکومت په رول کې هم بدلون رامنځ ته شو، ځکه په تقلیدي ټولنو کی حکومت د عامو سیاستونو او پالیسیو په طرح کولو او د هغوي په تطبیقولو کی یواځینی ځواک بلل کیده، چې دا کار په دې متغیرو حالاتو کی نور ممکن نه بریښیده، ځکه په دې توګه په هر څه کی د حکومت مداخله ورته د لیبرالیزم د بنسټیزو موخو سره په ټکر کی ښکاریده، له همدې امله په لویدیز کی ډیر مفکرین په دې نظر شول چې د نړیوالتوب په مرحله کی باید د حکومت رول بالکل له منځه ولاړ شي او یا ډیر راکم کړی شي، ځکه چې په ټولنه کی نور مؤثر قوتونه او جهتونه مطرح شول چې هغه کارونه سرته رسوي چې په تقلیدي طرز فکر کی حکومت سرته رسول، نو په طبیعي توګه ددې مؤسساتو د موجودیت په نتیجه کی د حکومت رول باید محدود شي، د اقوتونه او مؤسسات لکه رسنیز مؤسسات، مدني ټولنی، عسکري، تجارتي او دیني ټولنی، تجارتي شرکتونه، او نور لوی لوی مؤسسات چې د حکومت ترڅنګ عامه قضایا مطرح کوي او تربحث لاندی یې راوړي، او په ځانګړی توګه هغه وخت دی تفکر زور واخیست کله چې په غرب کی په اقتصادي پیښو کی د حکومت د مداخلی له امله لوی اقتصادي ستونزی رامنځ ته شوی.
- په همدې وخت کی له نوي سر نه د حکومت دندی وټاکل شوی، چې په نتیجه کی یې د حکومت رول او وظائف تر ډیری کچې راکم کړی شول، او ډیر وظایف یې نور شریکانو لکه خصوصي سکتور او مدني ټولنی ته ورکړی شول، نوځکه ویلی شو چې د ښه حکومت دارۍ تصور د هغه رکود او هغه مشکلاتو څخه د حکومتونو او عامه اداری د ژغورلو په منظور رامنځ ته شوی چې د نوو نړیوالو ظروفو په نتیجه کی ورسره پرمخ تللی غربي نړۍ مخامخ وه، د حکومتونو د فعال ساتلو لپاره د هغه په وظایفو کی بدلون وړاندیز شوی، او هغه تقلیدي وظایف چې مخکی د حکومت پر غاړه ؤ او اوس یې په سرته رسولو کی پاتی راغلل نو د هغو وظایفو په ښه توګه د اداء کولو لپاره ورته شریکان وټاکل شول چې هغه خصوصي سکتور او مدني ټولنی دي.

**مخ پر وده هیوادونو لپاره یې ارزښت**

که په غربي او پرمخ تللو هیوادونو کی ښه حکومت داري له دی امله رامنځ ته شوه چی حکومتونو په پرله پسی توګه په اقتصادي او ټولنیز نظام کی مداخله کوله تر څو دا مداخله کنترول کړي، ځکه دا په بنسټیز ډول د لیبرالیزم سره په ټکر کی وه، او د بشپړی ازادی کومی هیلی چی د دیموکراسۍ څخه یې درلودلی هغه ترلاسه نه شوی، خو مخ په پرمختګ او وروسته پاتی هیوادونو کی د ښه حکومت دارۍ د مطرح کیدو بنسټیز لامل ددی حکومتونو ناکامي، د خپلو هیوادوالو د ضرورتونو په پوره کولو کی پاتی راتلل او د خپلو وعدو په پوره کولو کی ناکامیدل دي، دا حکومتونه د امنیت د ټولنو په حفاظت، د خلکو د ممتلکاتو په ساتنه، او د عمومی نظام په حفاظت کی پاتی راغلی دي.

ددی ترڅنګ دا حکومتونه په استبداد، ظلم، سیاسی او اداري فساد کی ښکیل دي، سره له دی چی د پرمختګ په مخ کی شاید ډیر خنډونه وجود ولري خو شاید اداري او سیاسي فساد یې په سر کی واقع وي، له همدی امله ـ د ښه حکومت دارۍ د تصور د مطرح کونکو له نظره ـ تر هر څه زیات باید د همدی د له منځه وړلو لپاره کار وشي، د همدی اهمیت په درک کولو سره د ښه حکومت دارۍ تر عنوان لاندی په دی ورستیو لسیزو کی د فساد پروړاندی د مبارزی خبره ډیره بحث کیږي او د ملګرو ملتونو، نړیوال بانک، نړیوال وجهي صندوق او د پرمختګ نړیوالی اداری له لوری په پرله پسی توګه په هیوادونو کی د فساد د کچی په اړه راپورونه خپریږي او هیوادونه د فساد د کچی په معیار ارزول کیږي او تصنفیږي.

ددی ستونزی د اواری په خاطر د ښه حکومت دارۍ تصور مطرح شو، تر څو د مالي، اداري او سیاسي فساد د مشکل لپاره علاج وړاندی کړي، ځکه د ښه حکومت دارۍ تصور په څه داسی ارزښتونو مشتمل دی چی دا ستونزه اوارولی شی، د بیلګی په توګه د ټولنی هر وګړي ته د امنیت احساس ورکول، همکاري، باکفاءته او د فساد څخه پاک وګړی په دندو ګمارل، خصوصي سکتور او مدني ټولنی ته د تصمیمونو په نیولو، د پالیسیو په جوړولو او پلی کولو کی د ګډون مجال پرانستل، او په مؤسساتي ډول د بشري حققوو ساتنه او داسی نور.

د نړیوال بانک د یوی څیړنی د پایلو سره سم په وروسته پاتې هېوادونو کی د وروسته پاتې کیدو لامل د فنډ کموالی نه دی، ځکه هغه څیړنی داسی هیوادونه سره پرتله کړي چی یو ډول پروژی یې په یو مقدار فنډ تطبیق کړي خو د دواړو په نتائجو کی ډیر زیات توپیر دی، څیړنه دی نتیجی ته رسیدلی چی د دواړو هیوادونو ترمنځ د مؤسساتو او پالیسیو تفاوت دی نه د فنډ او وسائلو[4].

د اداري، مالي او سیاسي فساد د مخنیوي لپاره د کلاسیک حکومت په توان باندی شک ظاهر کړی شو، چی د نوو نړیوالو حالاتو په نظر کی نیولو سره تقلیدي سیستمونه او حکومتي نظامونه دا مشکل نشي حل کولی بناء باید د ښه حکومت دارۍ کومه نمونه چی په غربي نړۍ کی ازمایل شوی ده هغه باید دلته هم وازمایل شي.خو نه پوهیږم چی دا نسخه په اسلامي نړۍ کی هم په هماغه کچه ګټوره تمامیدی شی او کنه؟ که چیرته داسی خلک چی ضمیر یې د فساد څخه مانع نه شي او قانون کمزوری وي یا د قانون تطبیق په سمه توګه سرته نه رسیږي، بلکه د قانون د تطبیق واک هم په فساد کی

---

[4] - وګورئ: الحکم الراشد بین الفکر الغربی والاسلامی (دراسة مقارنة) ص ص ۲۴-۲۵ د بن عبد العزیز خیرة د دکتوراه رساله، چی په ۲۰۱۴م کال کی مناقشه شوی، ده، په الجزائر کی د الحاج لخضر پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو پوهځی، چی په انترنت باندی په لاندی لینک نشر شوی ده ، دا د پی دی ایف په بڼه نشر شوی ده خو مشکل پکښی دا دی چی د صفحاتو شمیری یې نه دي لګیدلي، دلته چی کومی شمیر ورکول کیږي دا هغه شمیری دي چی په پی دی ایف کی په اتومات ډول ښکاره کیږي، (http://theses.univ-batna.dz/index.php?option=com_docman&task=doc_details&gid=4145&Itemid=4)

اخته د همدی ډلی په لاس کی وي ځرنگه ممکن ده چی په داسی حالاتو کی د ښه حکومت دارۍ له لاری د فساد د له منځه تللو توقع ولرلی شو، له همدې امله د تیرې پیړۍ د اتیایمې لسیزې راهیسې د ښه حکومت دارۍ تجربی هم د اسلامي نړۍ په بیلا بیلو هیوادونو کی گورو او هم د دریمی نړۍ په نورو هیوادونو کی مگر هغه پایلی چی تمه یی کیدله لاس ته نه دی ورغلی ، بلکه فساد او وروسته پاتی والی  د تیر په څیر دوام لری.

**دویم: د ښه حکومت داری تعریف:**

د ښه حکومت دارۍ اصطلاح چونکه د بیلا بیلو مؤسساتو او شخصیاتو له لورې استعمال شوې، او دا مؤسسات او شخصیتونه د اهتمام په لحاظ متفاوت دي، ځوک د سیاسی اړخ څخه دی ته گوري او ځوک د اقتصادي اړخ څخه، نو له دې امله ددې اصطلاح تعریفونه یو له بل سره توپیر لری، له دی امله به دلته ددی بیلا بیلو اتجاهاتو په رڼا کی ددی اصطلاح تعریف د لوستونکو مخ ته کیږدو:

- **د سیاسی نقطه نظر څخه د ښه حکومت داری تعریف**

د سیاسي نقطه نظر نه د ښه حکومت دارۍ په مفهوم کی د اصلاح او اداري اهلیت تر څنگ په دیموکراتیکو ارزښتونو تاکید شوی دی، چی په هغه کی د دیموکراسی د منل شو اصولو لکه د قانون واکمنی، سیاسی او ټولنیز تنوع او تعدد، یو بل زغمل او منل، عمومي ازادي، د بیان ازادي، او د تابعیت حقوق، او داسی نور ارزښتونه شامل دي، دا په حقیقت کی د دیموکراسۍ د پخوانیو ثابتو اصولو نوی تعبیر او جوړښت دی، په دی معنی چی د دوي له نظره د ښه حکومت دارۍ او دیموکراسۍ ترمنځ هیڅ تفاوت نشته.

ملگري ملتونه ښه حکومت داري داسی تعریفوي: ښه حکومت داری په ټولو  کچو  د یو هیواد د چارو د اداره کولو او چلولو لپاره  په سالمه توگه د اداري، سیاسي او اقتصادي واک استعمالولو ته ویل کیږي، چی دا کار د هغه وسائلو، عملیاتو او ادارو[5] له لاری سرته رسیږي چی د هغوي له لاری وگړي د خپلو گټو ساتنه کوي، د هغه لپاره اواز پورته کوي، د خپلو قانوني حقوقو ممارست کوي، خپل مسؤلیتونه او واجبات سرته رسوی او  د خپلو اختلافاتو په اړه توافق ته رسیږي، بناء ویلی شو چی د ښه حکومت داري مفهوم د یو شمیر هغه اسبابو او وسائلو د تفاعل تر شا او خوا را څرخیږي چی په پای کی یې د هیواد د اداري تر ټولو غوره طریقه او کړنلاره منځ ته راځي[6].

د ښه حکومت دارۍ  هغه تعریف او مفهوم چی د ملگرو ملتونو د وثیقی څخه مو نقل کړ په حقیقت کی په لاندی ټکو مشتمل دی چی دا پخپله د دی ځرگندونه کوي چی د ښه حکومت دارۍ  څخه ددې اداري بنسټیزه موخه سیاسی ده، په دې تعریف کی بنسټیز ټکی په لاندی ډول دي:

- د بشري او مالی سرچینو سالمه او فعاله اداره.
- د خدماتو په وړاندی کولو کی عدالت او انصاف
- د پوښتنی او محاسبی قابلیت درلودل.
- د اختلافاتو او جنجالونو د اواری او معالجی لپاره د قانونی او سالمو دوائرو موجودیت.

---

[5] - له دی څخه یې هدف د خصوصي سکتور اداری او د مدني ټولنی مؤسسات دي.

[6] - مبادئ الحوکمة الرشیدة فی اتفاقیة الامم المتحدة لمکافحة الفساد، د حسین اسامة لیکنه، ۲۰۱۴م کال، د مصر د مرکز العقد الاجتماعی له خپرونه څخه چی په لاندی ادرس په انترنت خپره شوی ده: (http://www.socialcontract.gov.eg/media/MediaCenter/2d63d093-8b07-47b4-90d9-38f151aa36f7.pdf)

- عادل، ګټور او سالم قضایي سیستم درلودل.
- داسي شفاف او د ټولو پرمخ پرانیستي مؤسسات درلودل چي د ټولنی وګړو ته د مشارکت، اعتراض، محاسبی او رأی ورکولو حق ورکوي.

د سیاسی نقطه نظر نه د ښه حکومت دارۍ د تعریف په سیاق کی د امریکا پرمختیایی اداره (USAID) وایی: د ښه حکومت دارۍ څخه مراد دا دی چی حکومت د اهلیت، مؤثریت، مسؤولیت او وګړو ته د ګډون او مشارکت ورکولو له لاری د عامه اداری[7] د پیاوړتیا او پرمختګ توانایی ولري، او ددی لپاره ددیموکراسۍ نظام ددی پرځای چی کمزوری یې کړي باید پیاوړی یې کړي، هغه نظام چی په شفافیت، تنوع او تعدد د هیواد د وګړو په فیصلو کی په ګډون، د خلکو په نمایندګۍ او محاسبه کولو ولاړ وي، په دی لړ کی باید په لاندې پنځو برخو ته ځانګړی پاملرنه وشي:

1. د قانون ګذاری د مؤسساتو تقویت او د مرکزیت راکمول او د لامرکزیت تقویه کول[8].
2. محلی دیموکراتیکه حکومت داری (دښاروالیو، ولسوالیو او کلیو په کچه دیموکراتیکه حکومتداری)
3. د فساد پر ضد مبارزه.
4. د اردو او ملکي/سیاسي حکومت او ادارو ترمنځ اړیکی[9].
5. د سیاستونو او پالیسیو په تطبیق کی ښه والی راوستل.[10]

ددي تر څنګ چی د سیاسی نقطه نظر څخه د ښه حکومت دارۍ څومره تعریفونه شوي دي په هغوي کی عموما د دیموکراسۍ په اصولو او مسلماتو باندی ټنیګار شوی دی، ددی اصولو ترڅنګ یو لړ نور قضایا هم په نظر کی نیول شوي دي، بناء د سیاسی نقطه نظر له مخی ښه حکومت داري د دیموکراتیکو اصولو له لاری فعاله، قانونمنده، شفافه، د خلکو په مشارکت ولاړه او خلکو ته جواب ده اداره رامنځ ته کول دي.

د اقتصادی نقطه نظر نه د ښه حکومت دارۍ مفهوم

څه اداری او اشخاص (ښه حکومت دارۍ) ته د اقتصادي او مالیاتی نظره کتنه کوي، دوي بیا د ښه حکومت دارۍ په تعریف کی همدی قضایاو ته زیاته پاملرنه کوي، ددی ادارو له نظره د ښه حکومت دارۍ د متعددو تعریفونو څخه یو څو تعریفونه په لاندی ډول دي:

لومړی د نړیوال بانک تعریف: ښه حکومت داري هغه کړنلارى ته ویل کیږي چی د پرمختګ د رامنځ ته کولو په منظور د دولت د اقتصادي او ټولنیزو سرچینو په غوره توګه د اداره کولو او په کار اچولو لپاره د حکومت له لوری غوره کیږي، همدا راز

---

[7] - د عامه اداری څخه حکومتي اداره مراد ده.

[8] - هر څومره چی نظام مرکزي وي آزادۍ محدودیږي، او څومره چی لامرکزیت تقویه کیږي خلک د آزادیو احساس کوي، له همدی امله دا لیبرل طرز فکر سره ډیر اړخ لګوي.

[9] - دا دی امریکایي مؤسسی له لوری د دریمی نړۍ د هیوادونو لپاره د ښه حکومت دارۍ په معیارونو کی شامل دی، ځکه چی دا هیوادونه همیشه د عسکري کودتا ګانو شاهد وي، خو دا یواځی د خولی خبری دي، دوي په عمل کی همیشه عسکري کودتا ګانی تأیید کړي دي او د هغوي تر شا دریدلي دي چی د مثالونو ذکر کول د وخت ضیاع ده ځکه قضیه په یو مثال دوه کی نه را خلاصه کیږي.

[10] - ددی تعریفاتو لپاره وګورئ: الحکم الراشد بین الفکر الغربی والاسلامی (دراسة مقارنة) ص ۲۱ د بن عبد العزیز خیرة د دکتوراه رساله، چی په ۲۰۱۴م کال کی مناقشه شوی، ده، په الجزائر کی د الحاج لخضر پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو پوهځی، چی په انترنت باندی په لاندی لینک نشر شوی ده ، دا د پی دی ایف په بڼه نشر شوی ده خو مشکل پکښی دا دی چی د صفحاتو شمیری یې نه دي لګیدلي، دلته چی کومی شمیر ورکول کیږي دا هغه شمیری دي چی په پی دی ایف کی په اتومات ډول ښکاره کیږي،
(http://theses.univ-batna.dz/index.php?option=com_docman&task=doc_details&gid=4145&Itemid=4)

په یو بل تعبیر ښه حکومت داري هغه طریقو، مؤسساتو او ادرو ته ویل کیږي چې د هغه سره سم د عامه ګټو د ساتلو په موخه حکومت کیږي چې لاندې اړخونو ته شامل دي:

- د حکومت او حکومتي مسؤولینو د ټاکلو او بدلولو پروسه (دا یې سیاسی اړخ دی)
- په حکومت کې د سالمو او درستو پالیسیو په اغیزمنه توګه د عملي کولو او د هیواد د مواردو او منابعو د درستې اداری توانایي وجود ولري (اقتصادي اړخ)
- د هیواد د ټولو وګړو او پخپله د دولت له خوا هغه مؤسساتو[11] ته احترام درلودل چې پخپلو منځونو کې اقتصادي او ټولنیز تفاعلات کنترولوي (دا یې مؤسساتي اړخ دی)[12].

د همکارۍ او اقتصادي پرمختګ اداری (OCDE) ښه حکومت داري داسې تعریفوي: (ښه حکومت داري د ټولنیز انکشاف او اقتصادي پرمختګ د لاس ته راوړلو په منظور د پرمختګ لپاره د اړتیا وړو منابعو د برابرولو لپاره د سیاسی واک د درست استعمال او په ټولنه کې د څارنې د دقیق سیستم د اجراء نوم دی)

همدا راز یو شمیر پوهان وایي چې د ښه حکومت دارۍ تعریف باید په لاندې عناصرو مشتمل وي:

1. د دولتي ادارو، خصوصي سکتور د مؤسساتو او غیر حکومتی ادارو او مؤسسات(NGOs) ترمنځ همغګی او اړیکی درلودل.
2. د بیلا بیلو مؤسساتو او تنظیمی جوړښتونو ترمنځ د حدودو عدم ثبات او رونړتیا نه درلودل[13].
3. د بیلا بیلو تنظیماتو او ادارو ترمنځ د تعامل قواعد باید په ګفتګو او خبرو اترو ولاړ وي (یعنی کوم ثابت او مشخص قوانین ونه لري چې ازادي یې محدوده کړي).
4. د بیلا بیلو شبکو او مدني ټولنو غړي باید په پراخه کچه د استقلالیت څخه برخمن وي.
5. دولت باید د خپلو منابعو په مټو د شبکی نور غړي (د خصوصي سکتور مؤسسات او د مدني ټولنی مؤسسات) توجیه کړی شي.
6. عمومي پالیسۍ او سیاستونه د رسمي او غیر رسمي مؤثرو جوړښتونو او ادارو د خپل منځی تفاعل نتیجه وي(په دې معنی چې پالیسۍ یواځې د حکومت له لوری جوړې نه شي بلکه ددې په ټاکلو کې اړونده جهتونه لکه د خصوصي سکتور مؤسسات او مدني ټولنی فعال او مؤثر رول ولري)، چې محورونه یې باید لاندې شپږ محوره وي:

- لومړی محور: د بازار او په هغه کې د حکومت د لاس وهنی او دخالت محور او موضوع ده، چې حکومت باید عام خدمات وړاندې کړي، خو خپل مداخلت او لاس وهنه تر اخیری حد پوری راکمه کړي، او ددې لپاره شاخص دا دی چې حکومت باید د خصوصی سازی (Privatization) لور ته

---

[11] - د خصوصي سکتور او د مدني ټولنی مؤسسات.

[12] - مقاله الحکم الرشید من المنظور الإسلامي قراءة تحلیلیة لتجارب الماضي و رؤیة المستقبل خالد صلاح حنفي محمود، مجله افاق فکریة، ص ۸ جامعة الاسکندریة، مصر، المجلد الرابع العدد الثامن مارس عام 2018م.

[13] - څکه د دوي له نظره کله چې ټول حدود او ثغور مشخص شي هلته بیا استبداد رامنځ ته کیږي او ابتکار له منځه ځی او آزادي سلبیږي.

ولاړ شي، ځکه خصوصي سازي دا په ګوته کوي چې دولت او حکومت یواځې د اړتیا په صورت کې لاس وهنه کوي.

- دویم محور: د ښه حکومت داري درلودنکې حکومت او اداره د خصوصي سکتور په ادارو باندې د اهتمام له لارې په دې ادارو او مؤسساتو کې سهم لرونکو او ددې سره اړونده کسانو ( Stake Holders) غوښتنو ته غوږ نیسي، ددوي غوښتنې سرته رسوي او ددې مؤسساتو څخه مستفیدو اشخاصو او جهتونو خوښي د داسې حکومت او ادارې د اهتمام محور وي.
- دریم محور: د ښه حکومت دارۍ درلودنکې اداره د عمومي ادارې نوي اسالیب ( New Public Management)خپلوي، چې دا په نوو طریقو او ارزښتونو لکه سالم رقابت، د اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره شاخصونه ټاکل او بیا په اخر کې د هغه پیمایش، د ادارې صلاحیتونه او د اهدافو د لاس ته راوړلو امکانات په نظر کې نیول او داسې نورو ارزښتونو باندې ولاړه اداره ده.
- څلورم محور: سیاسي او اداري اړخونه یو د بل سره تړل، چې دا دواړه باید یو د بل تکمیل کونکي وي، او داسې نه چې سیاسي اداره یو لور ته روانه وي او بیروکراسي بل لور ته.
- پنځم محور: عمومي پالیسي او سیاستونه باید د (حکومت، خصوصي سکتور او مدني ټولنو) تر منځ د تفاعل په نتیجه کې رامنځ ته شي، دا که محلي سیاستونه وي او که مرکزي سیاستونه او پالیسي وي، او ددې سیاستونو په ټاکلو کې ددې مؤثرو اطرافو رول باید مساوي وي، دولت باید د ځان لپاره د زمري د برخې غوښتونکې نه وي.
- شپږم محور: د ښه حکومت دارۍ معنی دا ده چې په دولتي او حکومتي سیستم کې موجودې منظمې شبکې په درسته او منظمه توګه اداره کړې شي چې هماغه اهداف ترې ترلاسه شي چې د کومو اهدافو لپاره رامنځ ته شوي دي[14].

نو د اقتصادي نقطه نظر له مخې ښه حکومت داري د اقتصادي او ټولنیزو پرمختیایي پروژو او پروګرامونو د نهائي موخو او اهدافو د لاس ته راوړلو په منظور د بیلا بیلو اجراءاتو د سرته رسولو او د بیلا بیلو وسائلو په لاره اچولو نوم دي، په دې کې اصل هدف او محور همدا اقتصادي پروژې او ټولنیز پرمختیایي پروګرامونه دي، که په دې لړ کې سیاسي قضایا هم تر بحث لاندې راځي هغه هم په همدې محور راڅرخیږي، او اصلي موخه یې همدا دې.

دویمه قضیه چې دلته ورته اشاره کول غواړم هغه دا ده چې ښه حکومت داري د حکومتي ادارې پورې ځانګړې نه ده او نه په هغه کې منحصره ده، هره مؤسسه او هره اداره که وړه وي او که لویه، دولتي وي او که د خصوصي سکتوره اداره په ټولو کې ښه حکومت داري مطلوبه ده، همدا راز په نړیواله کچه هم ښه حکومت داري اړینه او ضروري ده.

ددې تعریفونه څخه دا څرګندیږي چې هرې ادارې او هر شخص د خپل تخصص په رڼا کې د ښه حکومت دارۍ تعریف کړې دی، خو ددې ټولو څخه دا په ډاګه ده چې د ښه حکومت دارۍ او د دوامدار بشري پرمختګ ترمنځ دقیقه رابطه وجود لري.

---

[14] - ددې لپاره وګورۍ: ادارة شؤون الدولة والمجتمع، سلوى شعراوي او ملګري، ص ۱۰، د مرکز دراسات واستشارة الادارة العامة له مطبوعاتو څخه، قاهره، مصر، کال ۲۰۰۱م، همدا راز وګورۍ: الحکم الراشد بین الفکر الغربی والاسلامی (دراسة مقارنة) ص ۲۲-۲۳ د بن عبد العزیز خیرة د دکتوراه رساله، مخکې ذکر شوی مرجع.

### دریم: د ښه حکومت دارۍ او دیموکراسۍ ترمنځ اړیکه

کله چې د ښه حکومت دارۍ خبره مطرح کیږي د یو شمیر خلکو سره دا سوال مطرح کیږي چې دا ډول حکومت د دیموکراسۍ سره څه توپیر لري، او ولې دی ته اړتیا پیدا شوه چې د دیموکراسۍ په موجودیت کې یو نوی تصور او یو نوی طرز حکومت مطرح کړی شي؟ خو حقیقت دا دی چې دا د دیموکراسۍ بدیل نظام حکومت نه دی، بلکه دا د دیموکراسۍ یو تکمیلونیک سیستم او میکانیزم دي، او دا ځکه چې د ښه حکومت دارۍ تصور هغه وخت مطرح شو چې کله د دیموکراسۍ په اړه سوالونه راپورته شول، او کله چې ولیدل شول چې دیموکراسي هغه نتائج چې خلکو تری توقع درلوده نه ترلاسه کیږي، د بیلګې په توګه په دیموکراسۍ کې ډیره کمه فیصدي خلک ټولې اړینې فیصلې سرته رسوي، د خلکو په اراو باندې د اغیز پریښودلو دومره پیچیده لارې چارې وجود لري چې ملتونه نادرستو فیصلو ته چمتو کیږي، مال دولت، اقتدار، رسنۍ هغه څه کولی شي چې ډیر خلک یې تصور هم نشي کولی، په دریمه نړۍ کې خو دیموکراسي د همدی مثلث په قبضه کې ده خو په غربي نړۍ کې هم هغه څه سرته رسولی شي چې موږ د امریکا په تیرو ولسمشریزو ټاکنو کې ولیدل، د دونالد ترامپ له لوری د یو څو ګمراه کونکو او غولونکو شعارونو په مطرح کولو داسی څوک د امریکا ولسمشر شو چې د امریکا سنجیده او بادرکه خلک یې قطعا ددی کار لپاره وړ نه بولي، له همدی امله ښه حکومت داري د دیموکراسۍ سربیره یو لړ نور ګامونه دي چې باید پورته کړی شي چې د دیموکراسۍ نقائص پری معالجه شي، له همدی امله د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام (UNDP) وایي چې د ښه حکومت دارۍ یو شاخص (دیموکراسي) ده، په دی معنی چې د دیموکراسۍ سربیره څه ګامونه باید یو نظام او حکومت پورته کړي تر څو ښه وبلل شي، د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام چې د دیموکراسۍ ترڅنګه د ښه حکومت دارۍ لپاره کوم مواصفات اړین بللي دي هغه په لاندی ډول دي:

- باید انساني حقوق او بنسټیزی آزادۍ په داسی توګه محفوظی وي چې په نتیجه کې یې د هر وګړي انساني کرامت خوندي وي، او د عزت او احترام ژوند ولري.
- د هیواد د اوسیدونکو نظریات باید د هغه فیصلو او قوانینو په اړه واوریدل شي چې د هغوي په ژوند اغیز ولري.
- د هیواد اوسیدونکی د واکمنو څخه ددی غوښتنه وکړي شي چې د خپلو کړو او وړو او فیصلو او اقداماتو په اړه بشپړ حساب ملت ته ورکړي، یعنی ملت د واکدارانو د محاسبی حق ولري.
- ټولنه باید د داسی عادلانه قوانینو، مؤسساتو او اقداماتو له لاری اداره شي چې د ټولنی په ټولو وګړو په عادلانه توګه د تطبیق وړ وي.
- په ټولنه کې د عمومي انساني حقوقو او عمومي انساني ژوند پوری اړونده مجالاتو کې د سړو او ښځو د تساوي او یوشانته والي حق باید تضمین او مکفول وي.
- فیصلی داسی وشي چې د راتلونکو نسلونو د اړتیاو او ضرورتونو رعایت هم په کښې شوی وي.
- اجتماعي او اقتصادي فیصلی باید د فقر د له منځه وړلو او د ټولو لپاره د خپلی خوښی د میدان د ټاکنی د پراختیا لپاره وکارول شي، تر څو په اقتصادي لحاظ هر څوک هغه مجال د ځان لپاره وټاکلی شي چې د

ځان لپاره يې مناسب ګڼي.[15]

ددې معنی دا شوه چې ښه حکومت داري د يو ځانګړې نظام حکومت يعنې ديموکراسۍ يا کوم بل سياسی نظام نوم نه دی، بلکه د ديموکراسۍ ترڅنګ يو څه نورو عناصرو باندې هم مشتمل دی تر څو هغه ستونزې حل کړي چې ټولنه ورسره لاس او ګريوان ده، هغه عناصر چې د ديموکراسۍ تر څنګ بايد د ښه حکومت دارۍ سيستم پر مشتمل وي د لاندی عناصرو څخه عبارت دي: د قانون حاکميت، محاسبه، څارنه، لامرکزيت، د فساد پر ضد مبارزه او د ټولنيزو خدمتونو د سيستم اصلاح، معلوماتو ته د واکمنو او عامو خلکو د لاس رسي د سيستم د سمولو له لارې شفافيت رامنځ ته کول، د سياسی محاسبی د تقويت په خاطر د مدني ټولنی تقويه کول او هغه ته اهميت ورکول، د حکومت مشروعيت او د خلکو ګډون، همدا راز په ملت کی د ديموکراتيک سياست د ثقافت شتون، د باکفايته اداري سيستم موجوديت، همدا راز په اقتصادي ميدان کی د سالمو پاليسيو او سياستونو موجوديت لکه د تجارت ازادول يعنی د اقتصادي فعاليتونو په توجيه او هغوي ته په سمت ورکولو کی د دولت صلاحيتونه راکمول او محدودول، د اقتصاد خصوصی سازی، د فقيری طبقی سره د مرستی لپاره پاليسی جوړول، د عسکري مصارفو راکمول، او د عمومی بودجی زياته برخه په تعليم او صحت باندی مصرفول، هغه عناصر دي چې د بين المللی ادارو له لوری د ښه حکومت دارۍ برخه بلل کيږي، دی عناصرو ته په کتلو دا په ډاګه کيږي چې هر هغه نظام چې په ديموکراسۍ ولاړ وي ضرور نه دی چې هغه دی د ښه حکومت دارۍ درلودونکی هم وي، ځکه ديموکراتيک نظام ډير ځله هغه اصول تر پښو لاندی کوي چې د ښه حکومت دارۍ بنسټيز عناصر بلل کيږي خو د ښه حکومت دارۍ لپاره په ديموکراسۍ ولاړ نظام د غربي مفکرينو له نظره ضروري او اړين دی.

## څلورم: د ښې حکومت دارۍ بنسټيز عناصر

د ښه حکومت دارۍ بنسټيز عناصر هغه وخت پيژندلی شو چې بده او ناوړه حکومت داري وپيژنو او د هغه د صفاتو او ځانګړتياو سره آشنا شو، ځکه چې هر شی د خپل متضاد شي سره د تقابل او مقايسی په نتيجه کی ډير ښه واضح کيږي، فاسده او خراب حکومت داري هغه ادارې ته ويل کيږي چيرته چې د کارونو د سرته رسولو لپاره هيڅ ډول قانون او ضابطه وجود ونه لري، او که موجود وي نو اصلا نه پلی کيږي، او که پلی هم شي نو په عادلانه توګه نه پلی کيږي بلکه په بديله او انتقائي توګه پلی کيږي، همدا راز هغه حکومت داري فاسده حکومت داري ده چيرته چې روڼتيا او شفافيت نه وي، او روڼتيا هغه وخت له منځه ځي کله چې معلوماتو ته درست لاسرسی وجود ونه لري، همدا راز هغه حکومت فاسد حکومت دی کوم چې د عمومي ګټو او شخصي ګټو ترمنځ په توپير کولو کی پاتی راځی، همدا راز د ملت د مال او شخصي مال فرق له منځه ولاړ شي، يعنی کله چې د ملت مال د شخصي ګټو لپاره استعماليږي او ملي ګټی د شخصي ګټو څخه قربانيږي، همدا راز هغه حکمراني فاسده حکمراني ده چيرته چې په قوانينو باندی د ملت اعتماد له منځه تللی وي، او يا ډير ضعيف وي، او هغه حکومت فاسد حکومت دی چې د هغه اولويتونه او ترجيحات د هيواد د پرمختګ سره په ټکر کی وي، او د هيواد مالي او بشري منابعو څخه ناوړه استفاده کوي، ددی ځانګړتياو درلودونکی حکومت فاسد او ناوړه حکومت بلل کيږي، نو ددی په

---

15 - د دی لپاره وګوری: د ملګرو ملتونو د پرمختيايی پروګرام (UNDP) له خوا نشر شوی وثيقه چې عربی ته په (ادارة الحكم لخدمة التنمية المستدامة) تر عنوان لاندی په جنوري ۱۹۹۷م کی په لاندی لينک نشر شوی ده، (http://www.abhatoo.net.ma/الصفحة-الرئيسية/معلمة-نصية/التنمية-الإقتصادية-والإجتماعية/التنمية-الإجتماعية/معالم-التنمية-الاجتماعية/التنمية-البشرية/إدارة-الحكم-لخدمة-التنمية-البشرية-المستدامة) د مراجعی نيټه ۲۰۱۹/۲/۱م. همدا راز وګوری: الحكم الرشيد من المنظور الاسلامی قراءة تحليلية لتجارب الماضی ورؤية المستقبل، د خالد صلاح حنفی محمود ليکنه ص ۱۳، مخکينی مصدر.

مقابل کی هغه حکومت چی ددی متقابلی ځانګړتیاوی ولري هغه ښه او وړ حکومت بلل کیږي، دا ځانګړتیاوی د یوی اداری څخه تر بلی اداری او یو لیکوال له نظره د بل لیکوال تر نظره پوری تفاوت لري، ځکه دا په حقیقت کی هغه معیارونه دي چی ددی پر بنسټ یو نظام یو حکومت ارزول کیدلی شي چی واقعا د ښه حکومت داری سیستم لري او که نه؟ دلته موږ ددی ځانګړتیاو څخه یو څو مهمی ځانګړتیاوی چی بیلا بیلو ادارو ذکر کړي دي پرته له دی یادونه کوو چی دا کومی اداری ټاکلي دي، په دی ادارو کی مهمی اداری د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام (UNDP) او نړیوال بانک (World Bank) د یادولو وړ دي:

لومړی ځانګړتیا: د قانون حکمراني (Rule of Law): د قانونیت او قانون د حکمرانی څخه هدف دا دی چی باید هیواد او اداره عادلانه او پاک قانوني جوړښتونه ولري، د هغه د تطبیق لپاره فعالی، د فساد څخه پاکی، قوي، ځواکمنی او مستقلی اداری وجود ولري، چی قوانین په بی طرفه ډول په ټولو خلکو په عادلانه توګه تطبیق کړي، دی قانوني مراجعو ته ټول خلک په یو شکل لاس رسی ولري، دا اداری د محاسبی څخه پورته نه وي، د قانونیت معنی دا دهم ده چی د انساني او بشري حقوقو په بشپړ ډول ساتنه وشي، او دا قانوني جوړښتونه د خلکو ترمنځ د نزاعاتو او اختلافاتو د حل او د عدالت د پلی کولو توان او قابلیت ولري. په حقیقت کی قانونیت او د قانون حکمراني د ښه حکومت داری د موجودیت ضمانت ورکوي له همدی امله دا د ښه حکومت داری یوه بنسټیزه ځانګړتیا بلل کیږي.

دویمه ځانګړتیا شفافیت (Transparency): د شفافیت مفهوم دا دی چی د هری اداری قوانین، لوائح، طرز العملونه او فیصلی، او د ادارو پوری اړونده نورو ټولو معلوماتو ته د خلکو لاس رسی ممکن وي، او د حکومت او دولتی او غیر دولتي ادارو، او مدنی ټولنو په اړه هر څه شفاف، واضح، څرګند او په ډاګه وي، هیڅ څوک هیڅ شی پټ نه کړي، دا حق ټولو خلکو او په ځانګړی توګه د هری اداری سره اړوند خلکو ته د قانون په زور تر لاسه وي، او دا قانون په عملي توګه پلی هم وي، معلوماتو ته د لاس رسي، او د هر څه په شفاف ډول د خلکو سره شریکول څو فائدی لري، لومړی دا چی ددی په نتیجه کی د فساد کچه راکمیږي، که څوک فساد وکړي د هغه محاسبه ممکنه ګرځي، نوری اداری چی دی معلوماتو ته د خپلو راتلونکو پلانونو په تیارولو کی اړتیا لري هغه اداری تری استفاده کولی شي، په ادارو باندی د وګړو د اعتماد کچه پورته ځي، او په پای کی شنونکی د همدی معلوماتو په مټ د هری اداری د راتلونکی په اړه تخمین او اټکل (Predictability) کولی شي چی دا ټول په خپل وار خلکو لپاره په فیصله کولو کی اسانتیاوی برابروي.

دریمه ځانګړتیا محاسبه (Accountability): محاسبه د ښه حکومت داری یو بل بنسټیز اصل دی، د محاسبی لپاره دا ضروري او اړین دي چی د هر مسؤول او هری اداری د کار لپاره شاخصونه او معیارونه وټاکل شي، او بیا ددی لپاره میکانیزمونه تشخیص شي چی ددی ارزونه وکړي چی ایا د دی معیارونو سره سم کارونه سرته رسیدلي دي؟ ددی کارونو مؤثریت هم باید و ارزول شي، یواځی د کارونو سرته رسول او د هغی ارزول کفایت نه کوي، همدی میکانیزمونو، شاخصونو او معیارونو له لاری باید د عمومي ادارو، د مالي او اقتصادي مؤسساتو فعالیتونه و ارزول شي او محاسبه یې وشي، همدا راز د پالیسیو د جوړولو او ددی پالیسیو مؤثریت، او ددی پالیسیو او سیاستونو د تنفیذ څارنه او محاسبه باید سرته ورسیږي، ددی ترڅنګ د منابعو او موارد په کفاءت سره استعمال، د مصارفو کنترول، او داخلي او خارجي حساباتو ارزونه او محاسبه اړینه او ضروري ده، د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام محاسبه داسی تعریف کوي: (د محاسبی لپاره واضح او مؤثر خطوط (چی

هغه قانوني، سیاسی، مالي او اداري برخو ته شامل وي) وضع کول په داسی توگه چی د بیلا بیلو اړخونو لکه حکومتي او دولتی اداری، د خصوصي سکتور اداری او غیر دولتی مؤسساتو د مالي، قانوني، اداري او سیاسي محاسبه یقیني کړی شي.

په هره اداره کی چی محاسبه وجود ونه لري د هغه اداری فعالیت ضعیفه کیږي، او په کوم دولت کی چی د محاسبی اصل عملي نه شي د هغه دولت په فیصلو او کارونو د ملت اعتماد له منځه ځي، همدا راز بهرنیان او په ځانگړي توگه د پانگوالو اعتماد ته زیان رسیږي، له دی امله په دولتی او خصوصي سکتور کی د پانگونی د زیاتوالي، په نظام باندی د وگړو د اعتماد د زیاتوالي، او دسیاسي خطراتو د کمولو لپاره محاسبه یو اړین او ضروري اصل دی، او له همدی امله د ښه حکومت داری یو بنسټیز عنصر شمیرل کیږي.

څلورمه ځانگړتیا گډون او مشارکت (Participation): د ملگرو ملتونو د پرمختیایی پروگرام د وثیقی له مخی ددی معنی دا ده چی ټول مؤثر او فعال افراد او جهتونه د ضرورتونو او اړتیاو په ټاکنه، د پلانونو او پروگرامونو په جوړولو، د بودجو په ټاکنو ، د ورځنیو کارونو په اړه فیصلو کولو، مالي امورو او د پلانونو په تطبیق کی گډون او مشارکت ولري.

د ټولنی د وگړو او مدني ټولنی او غیر دولتي مؤسساتو او مؤثرو جهتونو گډون د ټولنی د پرمختگ لپاره یو بنسټیز عنصر بلل کیږي، ځکه د همدی گډون او مشارکت په نتیجه کی په ټولنه کی سیاسی نظام مستحکم کیږي، د دولت او ټولنی ترمنځ تعامل رامنځ ته کیږي، چی د دی په نتیجه کی د دولت په فیصلو د خلکو اعتماد لاس ته راځي.

پنځمه ځانگړتیا د فساد پر ضد مبارزه (Combating of Corruption): فساد دی ته ویل کیږي چی عمومي واک (هغه که دولتي واک وي او که په کومه خصوصي اداره کی واک وي) د شخصي گټو لپاره استعمال کړي، فساد ډیر شکلونه او صورتونه لري لکه رشوت، د چا د اړتیا څخه ناوړه استفاده، خپلو او خپلو دوستانو ته په نورو ترجیح ورکول، د خپل اثر او رسوخ څخه ناوړه استفاده او داسی نور، د ملگرو ملتونو د پرمختیایی پروگرام د فساد پر ضد د مبارزی وثیقه دا ښایي چی د فساد او دیموکراسۍ ترمنځ عکسي رابطه وجود لري، نو د فساد د کمولو او له منځه وړلو لپاره داسی محیط ته اړتیا ده چی په قانوني، سیاسی او اداري لحاظ د فساد سره د مقابلی وړتیا ولري، او ددی ترڅنگ دا کار هغه شونی دی چی د فساد په کمولو او له منځه وړلو کی د رسنیو او مدني ټولنو د مؤسساتو رول تقویه شي.

شپږمه ځانگړتیا استجابت (Responsiveness): ددی معنی دا ده چی حکومت، مدني ټولنه، د خصوصي سکتور مؤسسات او بله هره اداره باید د خپلو مراجعینو او مستفیدینو ضرورتونو او رغبتونو ته مثبت ځواب ووایي، همداراز په حکومت او مؤسساتو کی اړین سیاسي، اقتصادي او اداري بدلونونه راوستل له پامه ونه غورځول شي، او مثبت ځواب ورته وویل شي، دا کار ځکه اړین دی چی که د خلکو رغبتونه په پام کی ونه نیول شي نو مؤسسات، اداری او دولتونه خپل اعتماد له لاسه ورکوي، او که اړین بدلونونه را نه وړل شي ادارات، مؤسسات او دولتونه خپل مسؤولیتونه نشی ادا کولی.

اومه ځانگړتیا تساوي یا مساوات (Equity): د تساوي څخه هدف دا دی چی د ټولنی ټولو وگړو ته هغه که فقیر وي او که ثروتمند، د ټولنی د هری طبقی سره چی تړاو لري، او هر قشر پوری چی تړلي وي، نر وي او که ښځه ټولو ته باید د خپل ژوند د جوړولو او په ژوند کی د پرمختگ یو شانته فرصتونه برابر وي، هیڅوک د هیڅ کوم لامل په نتیجه کی د پرمختگ د فرصت څخه محروم نه شي.

اتمه ځانگړتیا: وړتیا او مؤثریت (Effectiveness & Efficiency): ددی معنی دا ده چی یوه اداره او یو نظام هغه وخت ښه کیدلی شي چی هغه توقعات چی وگړي یې د یوی اداری څخه لري او یو ملت یې د یو حکومت څخه لري، همدا راز هغه

مسؤولیتونه چې د اداری او حکومت پرغاړه دي د هغه د سرته رسولو وړتیا پکښې وي، او خپل اهداف په بهترین شکل باندی تر لاسه کړي، او د مؤثریت معنی دا ده چی د شته امکاناتو څخه حد اعظمی استفاده وکړي، همدا راز طبیعي موارد د ژوند د چاپیریال او د راتلونکو نسلونو د اړتیاو په نظر کی نیولو سره په بهترینه توګه استعمال کړي، دا په دی معنی چی یواځی دا کفایت نه کوي چی یوه اداره باید د غلا او اختلاس څخه پاکه اداره وي بلکه ددی ترڅنګ باید با کفاءته او باکفایته اداره هم وي چی خپل اهداف په ښه توګه ترلاسه کړی شي، که دا وړتیا ونه لري که هر څومره پاکه وي بیا هم د ښه حکومت داری یوه بنسټیزه ځانګړتیا په کښی نشته.

نهمه ځانګړتیا استراتیژیک لید لوری (Strategic Vision): د استراتیژیک لید لوری درلودلو معنی دا ده چی اداری، حکومت، ټول قیادت، او عام وګړي ټول د ښه حکومت داری، بشري پرمختګ او د هغه اړتیاوی او ضرورتونه، او د خپلی اداری او حکومت لوړ اهداف په نظر کی لري او د هغه اهدافو لور ته منظم حرکت کوي، خو به عین وخت کی تاریخي، ثقافی او ټولنیز محیط او سیاق هم په نظر کی ولري[16].

لنډه دا چی ښه حکومت داري د لاندی ځانګړتیاو د درلودلو څخه عبارت دی: د پرمختګ د یوی دائمي او مستمری پروسی + د قانون حکمراني+ قوي اداره + د نظام مشروعیت + وړتیا او فعالیت + یو داسی ټولنه چی د پرمختګ او بدلون وړتیا ولري + فعال مشارکت او د وګړو پراخه ونډه په کښی وجود ولري.

دا د دوه اړخیزی څارنی نوم دی چی پورته د لاندی او لاندی د پورته څارنه وکړي، او ټول په دی پوهه شي چی ټول په یوی کښتۍ کی سپاره دي، که نجات ترلاسه کوي نو ټول به يې تر لاسه کوي او که مشکلات هم راځي نو ټول به پری اخته کیږي.

### پنځم: د ښه حکومت داری مجالات

د ښه حکومت داری اصلي موخه دا ده چی د ټولنی د وګړو ټولنیز او اقتصادي حالت را ښه شي، او یو دوامدار بشري پرمختګ رمنځ ته شي، او د ټولنی او حکومت په ټولو سطوحو په وړتیا، شفافیت، او مؤثریت سره د کار کولو توانايي زیاته شي او په ټولنه کی قانونمندي او د اصولو سره سم د کار کولو التزام رشد وکړي، ددی هدف د لاس ته راوړلو لپاره هغه مجالات چی هلته باید ښه حکومت داري رامنځته شي د بین المللی ادارو له لوری دا دری مجالات ټاکل شوي دي:

- **سیاسی مجال**

په سیاسی مجال کی ښه حکومت داري دی ته ویل کیږي چی سیاسی نظام او حکومت مشروعیت ولري، د ټولنی قانونی او شرعی نمایندګی وي، او د حکومت او ټولنی ترمنځ ښی او د همکاری قوي اړیکي وجود ولري چی ددی په نتیجه کی لاندی نتائج رامنځته شي:

[16] - د دی ځانګړتیاو لپاره وګورئ: مبادئ الحوکمة الرشیدة فی اتفاقیة الامم المتحدة لمکافحة الفساد ص ۸- ۱۴، اعداد: حسین اسامة، مرکز العقد الاجتماعی کال ۲۰۱۴م او د مصر په مجلس وزراء کی (مرکز المعلومات و دعم اتخاذ القرار) په لاندی لینک نشر شوی بحث: (http://www.socialcontract.gov.eg/Arabic/publicationCategory/publication/publication-details/85) د مراجعی نیټه ۱۳۹۷/۱۱/۱۵ه ش. او الحکم الرشید الأبعاد والمعاییر والمتطلبات دکتور نبیل البابلی لیکنه، د المعهد المصری للدراسات، ترکیا، استنبول، له نشراتو څخه، تاریخ ۹/جنوری ۲۰۱۸م، په لاندی لینک نشر شوی (https://eipss-eg.org/wp-content/uploads/2018/01/الحکم-الرشید-الأبعاد-والمعاییر-والمتطلبات.pdf) ، همدا راز وګورئ: الحکم الرشید من المنظور الاسلامی ص ۱۴- ۱۵ خالد صلاح حنفي محمود، مخکی ذکر شوی منبع.

- د ټولو مؤثرو اړخونو (حکومت، خصوصي سکتور او مدني ټولنی) ترمنځ مثبت تفاعل او د عامه ګټو د لاس ته راوړلو او ساتلو لپاره د دوي ترمنځ داسی همکاري او ګډ کار وجود ولري چی د افرادو ګټی خوندي کړي.
- د شفافو، پاکو، د احزابو او جهاتو په تعددیت باندی ولاړو داسی انتخاباتو له لاری مؤثره دیموکراسي رامنځ ته کول چی ملت پکی په پراخه پیمانه سیاسی مشارکت او ګډون ولري.
- د ټولنی وګړو ته حق ورکول چی د تابعیت د ټولو حقوقو څخه استفاده وکړي.

د یو حکومت په سیاسی لحاظ ښه حکومت داری په دی ولاړه ده چی ددی حکومت سیاسی واک تر کومی کچی مشروعیت لري، د سیاسی احزابو او عامی ټولنی عمومي ازادیو ته څومره په حرمت قائل دی او احترام ورته لري، د بیان د ازادی څومره احترام کوي او د سیاسي احزابو او د مدني ټولنو د جوړولو څومره اجازه ورکوي، د ښه حکومت داری د معیارونو سره سم د سیاسی ادارو فعالیت او وړتیا تر کومه حده ارزوي، که ددی سوالونو ځوابونه مثبت وي نو بیا دا لاندی نتائج لاس ته راځي:

- په ټولنیزو مسؤولیتونو او وظائفو کی د حکومت وړتیا زیاتیږي، چی په نتیجه کی یې د حکومت څخه د ټولنی د رضایت او خوښی کچه لوړیږي او ددی په نتیجه کی سیاسی، اقتصادي او ټولنیز استقرار ته لاره هواریږي او په دی توګه اقتصادي پرمختګ او ټولنی ته رفاهیت راځي او د ټولنی اساسی حقوق او عدالت خوندي کیږي.
- د سیاسي نظام او ټولنی ترمنځ د اړیکو طبیعیت د ټولنی د وګړو له پلوه د سیاسی نظام د قبولیت څخه نمایندګي کوي، هر څومره چی رضایت پیاوړی وي نو دا د نظام په وړتیا، فعالیت، مؤثریت او قانوني مشروعیت دلالت کوي او ددی په نتیجه کی په ټولنه او هیواد کی عمومي استقرار رامنځ ته کیږي.
- د شفافو، پاکو او منظمو، د سیاسي احزابو او جهاتو او لورو په تعددیت باندی ولاړو انتخاباتو له لاری د واک تغییر او تبدیل، ځکه د حکومتونو او محلي ادارو مشروعیت او موده د اساسی قانون له مخی په همداسی انتخاباتو کی د مشارکت او ګډون پر بنسټ ټاکل شوی ده[17].

- **اقتصادي مجال**

په اقتصادي مجال کی ښه حکومت داري د اقتصادي پلان په ترتیبولو، د هری اقتصادي پروژی لپاره د موجوده بدائلو ترمنځ په عقلاني بنسټ تر ټولو ښه بدیل غوره کولو، او د هغه قضایاو په اړه صحیح او درسته فیصله کولو کی نغښتی دی چی د هیواد اقتصادي فعالیت زیاتوي او پرمختګ راولي داسی اقتصادي فعالیت چی د ټولنی د وګړو لپاره رفاهیت او ښه ژوند د ځان سره لري، د نړیوالو ادارو له نظره د اقتصادي فعالیت او پرمختګ دا هدف هغه وخت تر لاسه کیدلی شي چی:

- د اقتصادي اصلاح پروګرامونه لاس لاندی ونیول شي.
- د فساد پر ضد مبارزه وشي.
- د اقتصادي وضعیت په اړه د ټولنی عامو وګړو ته همیشه بشپړ معلومات د پوره شفافیت سره ورسیږي.
- د بیلا بیلو سکتورونو د فعالیت لپاره سالم قانوني محیط مهیا کړی شي.

[17] - دی لپاره وګوری: الحکم الصالح و آلیات ص ۱۸، مکافحة الفساد، د. عبد الرزاق مقري، دار الخلدونية للنشر والتوزيع، القبة، الجزائر، لومړی چاپ.

همدا راز ښه حکومت داري په پانگونه کې د خطراتو د راکمولو یو ډیر مهم لامل بلل کیږي او دا ځکه چې پانگه اچونکی هغه معلوماتونه په ښه توگه تحلیلوي چې د اقتصادي وضعیت په اړه په پوره شفافیت هغه ته رسیږي، او دا هغه وخت ممکن دي چې:

- خصوصي سکتور پانگونې ته وهڅول شي.
- داسې پلانونه او استراتیژۍ وضع شي چې د شته امکاناتو سره متناسبې وي.
- د اقتصادي ازادیو میدان پرانستل شي، او د رقابت د ضوابطو احترام وشي او هر څوک د کار بازار ته د ننوتلو او د سالم رقابت کولو ازادي ولري.

په اقتصادي او ټولنیز میدان کې ښه حکومت داري په دې مشتمله ده چې حکومت داسې فیصلې او اجراءات وکړي چې په بیلا بیلو اقتصادي فعالیتونو باندې مثبتې اغیزې لري، په دې لړ کې د حکومت رول د لاندې نقاطو په لاس ته راوړلو کې منحصر دی:

لومړی: د هیواد د اتباعو د ژوند د مستوی لوړول او د هغوي د ژوند د ظروفو ښه کول.

دویم: د فقر د کمولو او له منځه وړلو هڅه کول، او د ټولنیزو توپیرونو په نتیجه کې د صحنې نه د یو شمیر خلکو د لیرې کولو مخنیوی کول.

دریم: په اقتصادي میدان کې د قانوني چوکاټونو اصلاح کول[18].

- **اداري مجال**

لکه څرنگه چې معلومه ده چې د دریمې نړۍ په هیوادونو کې د ښه حکومت دارۍ د تصور د رامنځ ته کیدلو بنسټیز لامل د فساد په بې ساري توگه زیاتوالی او د نړۍ په کچه د مدیریتي علومو او مهارتونو پرمختگ وه، چې په نتیجه کې یې اداري اړخ د ښه حکومت دارۍ په چوکاټ، استراتیژیو او پالیسیو کې د ځان لپاره مهم ځای خپل کړ، ځکه چې دا د مدیریتي او تشغیلي سیستمونو سره تړاو لري، ښه اداره د لاندې گامونو په نتیجه کې رامنځ ته کیدلی شي:

- په ټولنه کې د موجودو بشري او مالي منابعو په عادلانه توگه توزیع او ویش.
- د اداري فساد او اقرباء پروري د بیلا بیلو ډولونو او اشکالو خاتمه.
- د عامه اداری د رشد، فعالیت او لا مؤثریت په منظور د لامرکزیت تطبیقول.
- په اداري نظام، او په اداري محیط کې تطبیقیدونکي قوانینو او لوائحو ته پاملرنه او اهتمام تر څو حکومت له دې څخه ځان مطمئن کړي چې دا د هیواد د ظروفو سره متناسبې دي او که نه؟ او ایا دا قوانین د ټولنې اړتیاوې پوره کولی شي؟

**شپږم: د ښه حکومت دارۍ معیارونه**

ډیرو څیړونکو او ډیرو نړیوالو ادارو د ښه حکومت دارۍ لپاره معیارونه ټاکلي دي، ددې معیارونو پر بنسټ یوه اداره او یو حکومت تلل کیدلی شي چې هغه ښه حکومت داري لري او که د حکومت دارۍ نوعیت یې فاسد دی، موږ دلته یواځې د

---

[18] -

دوو نړیوالو ادارو د ملګرو ملتونو پرمختیایی سازمان (UNDP) او نړیوال بانک (World Bank) معیارونه د لوستونکو مخی ته ږدو:

- لومړی: د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام (UNDP) معیارونه

د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام له نظره د ښه حکومت داري مفهوم د انساني پرمختګ د مفهوم سره تړلی دی، له همدی امله د ملګرو ملتونو نوموړی پروګرام ښه حکومت داري د بشري او انساني پرمختګ په معیارونو ارزوي، پر همدی بنسټ د هغه سازمان له لوری هیوادونه تصنیف کیږي، د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام چی د بشري پرمختګ د ارزونی لپاره کوم معیاري لاربنود جوړ کړی هغه په دری ابعادو او اړخونو مشتمل دی:

- ➢ چی انسان اوږد او د روغ او ښه صحت سره ژوند ولري.
- ➢ چی باسواده وي.
- ➢ چی په مناسب مالي حالت کی ژوند وکړي.

او دا د لاندی معیارونو پر بنسټ ارزوي:

- ➢ د ولادت پر وخت متوقع اوسط عمر
- ➢ مکتب ته تلونکو اوسط.
- ➢ د سواد لرونکو او لیک لوست کونکو کچه او اوسط.
- ➢ په اجمالي محلی انتاج کی د فرد ونډه او برخه

په کال ۱۹۹۰م کی د کوم وخت راهیسی چی د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداری له لوری د انساني پرمختګ لاربنود جوړ شوی له هغه راهیسی تر اوسه پوری د هغه سره یو شمیر نور تکمیلونکی لاربنودونه هم جوړ شوي چی د انساني پرمختګ ځانګړي اړخونه تر پوښښ لاندی نیسي او اهتمام پری کوي، له دی جملی نه لاندی لاربنودونه مهم دي:

- ➢ د بشریت د فقر د سنجولو لاربنود
- ➢ د جنسیت (د پرمختګ د فرصتونو په اړه د سړو او د ښځو د برابری) پوری د اړونده پرمختګ د سنجولو لاربنود.
- ➢ د ښځو د توانمند سازۍ او پیاوړتیا د ارزولو لاربنود.

**د بشریت د فقر د سنجولو لاربنود**

په ۱۹۹۰م کال کی د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام له لوری د صادر شوي (د بشري پرمختګ د ارزونی لاربنود) په یو هیواد کی انساني پرمختګ په اجمالي توګه د ارزونی معیارونه د ځان سره لري، خو د (د بشریت د فقر د ارزولو لاربنود) بیا د بنسټیز بشري پرمختګ په بیلا بیلو اړخونو کی د محرومیت د انبار شوو بیلا بیلو ډولونو د ارزونی او معلومولو معیارونه را په ګوته کوي، د فقر د ارزونی لاندی دوه لاربنوده د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام له لوری خپاره شوي دي:

**د بشري فقر د ارزونی لومړی لاربنود**

دا لاربنود مخ په ترقۍ هیوادونو کی په لاندی دری برخو کی د انسانانو په محرومیت او فقر باندی ترکیز کوي او په دی هیوادونو کی په دی برخو کی د فقر او محرومیت د کچی د ارزونی معیارونه په ګوته کوي:

- عمر: دا محرومیت په دی ارزول کیږي چی د ولادت په وخت کی تر ځلوینښت کلنی پوری د طفل د ژوندی پاتی کیدو احتمال شته.
- سواد: دا محرومیت په دی ارزول کیږي چی په بلوغ ته رسیدلو وګړو کی د بی سوادی کچه څومره ده.
- د دولتي او خصوصي سکتور له لاری د وګړو د اقتصادي اړتیاو د پوره کیدو اجمالي کچه: او دا په دی ارزول کیږي چی څو فیصده خلک د اوبو مناسب منبع ته لاس رسی لري، او دا چی د پنځه کالو څخه کم عمر ماشومانو څو فیصده د عادي وزن څخه کم وزن لري.

**د بشري فقر د ارزونی دویم لاربنود**

چونکه فقر او محرومیت د ټولنو د اقتصادي او ټولنیزو ظروفو او حالاتو د تفاوت په نتیجه کی تفاوت کوي له دی امله د ټولو ټولنو د فقر او محرومیت د کچی د ارزونی لپاره یو ډول لاربنود کارول ممکن نه دي، له دی امله د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام د هغه هیوادونو لپاره چی د اقتصادي همکاریو او پراختیا سازمان (OECD) ( Organization for Economic Co-operation and Development)[19] غړیتوب لري یو ځانګړی لاربنود جوړ کړی دی چی په هغه کی بشري پرمختیا د دری واړه اړخونو (صحت، تعلیم، اقتصاد) ترڅنګ دا معیار هم اینبودل شوی دی چی د ټولنیزو ملحوظات په نتیجه کی د خلکو د محرومیت کچه څومره ده، او په باسواده خلکو کی د اوږدی مودی لپاره د بی کاری کچه څومره ده، د ولادت په وخت کی د ژوند د اټکل معیار د ځلوینښتو پر ځای شپیته اینبودل شوی دی.

**د جنسیت په لحاظ د پرمختګ د ارزونی لاربنود**

دا لاربنود هم په تیرو لاربنودونو کی یاد شوي شیان د پرمختګ لپاره د معیارونو په حیث ګڼي خو په دی کی دی ته کتل شوي دي چی په دی کی د ښځو او سړو ترمنځ تفاوت څومره دی، که چیرته د نرانو او ښځو ترمنځ د پرمختګ په بنسټیزو عناصرو کی تفاوت زیات وي نو هغه هیواد د کمی درجی درلودونکی هیواد بلل کیږي.

**د ښځو د پیاوړتیا د معیار پر بنسټ ارزونه**

یو بل لاربنود چی د ملګرو ملتونو پرمختیایی پروګرام د ښه حکومت داری او دوامداره پرمختګ لپاره وضع کړی دی هغه د ښځو د پیاوړتیا او توانمند سازی معیار دی، دا لاربنود دا معلوموي چی ایا ښځی په اقتصادي او سیاسي ژوند کی فعال او مؤثر ګډون لري او که نه؟ دا لاربنود دا څیړي چی د ښځو او سړو ترمنځ په بنسټیزو مجالاتو کی لکه د سیاسي او اقتصادي قضایاو په اړه په تصمیم نیولو کی د مشارکت عدم توازن څومره دی، په پارلمان کی د ښځو فیصدي څومره ده، په حکومت کی د لوړی کچی په مسؤلینو، اداري او فنی کارکوونکو کی د ښځو او د سړو تناسب څومره دی، دا ټول ددی لپاره ارزول کیږي تر څو دا په ګوته کړي چی ښځو ته څومره فرصتونه برابر دي او تر کومی کچی هغوي اقتصادي استقلالیت لري[20].

---

[19] - دا د پرمخ تللو هیوادونو یو سازمان دی چی هدف یې اقتصادي پرمخ تګ او تجارتي تبادل د کچی د لوړول دي، ددی غړی یوشمیر پرمخ تللي هیوادونه دي چی د دیموکراسی او اقتصاد بازار اصولو ته غاړه ږدي، دا د ۱۹۶۱میلادي کال د سپتمبر د میاشتی په ۳۰ نیټه رامنځ ته شو چی په کال ۱۹۴۸م میلادي کی رامنځ ته شوي د اروپا د اقتصادي همکارویو د سازمان (Organization for European Economic Co-operation) ځای یې ونیوه.

[20] - دی لپاره وګورئ: برنامج الأمم المتحدة الإنمائي، تقرير التنمية البشرية، "أهداف التنمية للألفية: تعاهد بين الأمم لإنهاء الفاقة البشرية" ص 60، مطبعة كوركي، بيروت، کال 2003م، همدا راز وګورئ: الحکم الراشد و دوره فی تحقیق التنمیة المستدامة (حالة الجزائر) ص ۵۴- ۵۶ د بکوش ابتسام د ماستری بحث، جامعة ابی بکر بلقاید، الجزایر، پوهنځی اقتصاد، د لیکلو کال ۲۰۱۵- ۲۰۱۶م، په لاندی لینک باندی نشر شوی (http://dspace.univ-tlemcen.dz/bitstream/112/10051/1/BEKKOUCHE%20IBTISSEM.pdf) د مراجعی تاریخ ۲۰۱۹/۲/۸م.

په یو شمیر هیوادونو کې دا کارونه په مصنوعي شکل سرته رسیږي لکه افغانستان چې په حقیقت کې د هغه ټولنې د واقعي پرمختګ څخه نمایندګی نه کوي، د بیلګی په توګه د ماشومانو د وزن مشکل، د پرمختګ په فرصتونو کې د ښځو او نرانو د ونډې د برابرې قضیه او همدا راز نور معیارونه چې د ملګرو ملتونو او نورو ادارو له لورې ټاکل شوي دي، دا کارونه هغه وخت د ښه حکومت دارۍ او د دومدار بشري پرمختګ لپاره شاخصونه ګرځیدلی شي چې د یو هر اړخیز پرمختګ په نتیجه کې ترلاسه شي، او که په مصنوعي شکل سرته ورسیږي بیا دا معیارونه او شاخصونه په حقیقت کې د غلط فهمی د ایجادولو لامل خو ګرځیدلی شي مګر د ښه حکومت دارۍ او د بشري پرمختګ معیار نشي ګڼل کیدلی.

**دویم: د نړیوال بانک له نظره د ښه حکومت دارۍ معیارونه**

نړیوال بانک د ښه حکومت دارۍ د ارزونې لپاره ۲۲ معیارونه ټاکلي دي، ددی معیارونو موجودیت د ښه حکومت دارۍ په موجودیت دلالت کوي او نه موجودیت یې د ښه حکومت دارۍ په نه موجودیت دلالت کوي، په دی کې ۱۲ معیارونه د محاسبی او احتساب (Accountability) پورې اړه لري او لس نور یې د ښه اداری پورې اړه لري، ټول هیوادونه د همدی دوه ویشت معیارونو پر بنسټ تصنیفیږي چې د ۱۷۳ هیوادونو په لیست کی یوه نمره ورکول کیږي، هر هیواد د ښه حکومت دارۍ د کچی پر بنسټ د صفر او سلو ترمنځ نمرې اخلي، دا نمرې په داسی حیاتي مجالاتو ویشل شوي دي چې په حاکمو نظامونو کې د ټولنی د وګړو د مشارکت او ګډون په ګوته کوي.

**د احتساب اړوند معیارونه**

**د احتساب اړونده څلور مجالات دی چې د هغی د ارزونی په نتیجه کی د ښه حکومت دارۍ کچه تثبیتیږي، دا مجالات په لاندی ډول دي:**

- د سیاسي ادارو د انفتاح کچه
- د سیاسی مشارکت کچه او نوعیت
- د حکومت د شفافیت کچه او دا چې تر کومی کچې په ملت کی مقبولیت لري.
- د سیاسی احتساب او محاسبی کچه.

**د دی اړخونو د ارزونی لپاره چی د کومو موضوعاتو په اړه معلوماتونه راټولیږي هغه په لاندی ډول دي:**

- د وګړو سیاسي حقوق
- ټولنیزی آزادۍ
- د رسنیو آزادي
- سیاسي فعالیت
- حکومتي وظایف، چې دا وظائف د ازاد رقابت له لارې تر لاسه کیدلی شي؟ ددی وظائفو د ترلاسه کولو زمینه د ټولنی د هر وګړي لپاره ترلاسه ده؟ د توظیف په پروسه کی د ګډون کچه څومره ده؟.
- د دیموکراسۍ د اصولو سره سمه محاسبه.
- شفافیت.

**د اداری د نوعیت د ارزونی معیارونه**

د اداری د نوعیت لپاره نړیوال بانک خپل معیارونه ټاکلي دي چې مهم یې په لاندی ډول دي:

- د بیروکراسی مؤثریت او فعالیت
- د قانون احترام او حکمراني
- د ملکیت د حقوقو حمایت او ساتنه
- د فساد کچه
- د قوانینو نوعیت
- د داخلي محاسبې وسائل او آلیات.

ددې ترڅنګ نړیوال بانک د ښه حکومت دارۍ د درې بنسټیزو اساساتو د ارزونې لپاره شپږ معیارونه ټاکلې دي، چې د ښه حکومت دارۍ د هر بنسټ د ارزونې لپاره دوه دوه معیارونه په لاندې ډول ټاکل شوي دي:

لومړی بنسټ: د نظام او حکومت نوعیت، ددې د ارزونې لپاره دوه معیارونه ټاکل شوي دي:

1. انتخابات او محاسبه.
2. سیاسي استقرار او د تاوتریخوالي کچه

دویم بنسټ: د نظام او حکومت څرنګوالی، پیاوړتیا او توانایي، ددې د ارزونې لپاره لاندې دوه معیارونه ټاکل شوي دي:

1. د حکومت فعالیت او مؤثریت
2. د حکومت د ادارې او تنظیم نوعیت او څرنګوالی

دریم بنسټ: احترام او مساوات، ددې ارزونې لپاره لاندې دوه معیارونه ټاکل شوي دي:

1. د قانون حکمراني
2. د فساد څارنه[21].

**اوم: په ښه حکومت دارۍ کې مؤثر او فعال جهتونه**

په ښه حکومت دارۍ کې فعال او مؤثر جهتونه درې دي، که په دې کې یو جهت هم خپل مسؤولیت ترسره نه کړي ښه حکومت داري نه شي رامنځ ته کیدلی، دا درې جهتونه حکومت، خصوصي سکتور، او مدني ټولنه ده.

**1. حکومت**

په ښه حکومت دارۍ کې تر ټولو مؤثر جهت حکومت دی، تر څو چې حکومت د ښه حکومت دارۍ په رامنځته کولو کې خپل رول ونه لوبوي ښه حکومت داري نه شي راتللی، خو دا په نظر کې نیول پکار دي چې د حکومت مفهوم او د هغه وظایف د پخوا په پرتله توپیر لري، په ښه حکومت دارۍ کې حکومت په ساحه کې د یواځیني لوبغاړي په حیث نه پیژندل کیږي، بلکه په دې کار کې هغه شریکان لري چې د ټولنې او هیواد د چارو په اداره کې ورسره شریک دي، چې په دې کې خصوصي سکتور او مدني ټولنې د یادونې وړ دي.

- **د ښه حکومت دارۍ لپاره د حکومت نه غوښتنې**

حکومت د ښه حکومت دارۍ یو بنسټیز او مؤثر عنصر دی، ځکه چې په ټولنه او بشري پرمختګ کې د حکومت رول بنسټیز دی، او همدا پرمختګ د ښه حکومت دارۍ اصلي موخه ده، په پرمختګ کې د حکومت رول بنسټیز ځکه دی چې

[21] - ددې لپاره وګورئ: الحکم الراشد ودوره فی تحقیق التنمیة المستدامة ص ۵۶ مخکې ذکر شوی منبع.

همدا حکومت دی چې ټولنیز مسؤولیتونه په غاړه لري، د تابعیت امور همدی پوری تړلي دي، د هیواد د وګړو لپاره عمومی خدمتونه برابرول د همدی مسؤولیت دی، د بشري پرمختګ لپاره عام محیط برابرول د همدی کار دی، د داسی استراتیژیو طرح کول او اداري جوړښتونو رامنځته کول قوانین جوړول چې د پرمختګ لپاره لاره هواره کړي همدی پوری تړلي دي، د ټولنی په پرمختګ کی د ونډی اخیستلو لپاره د بیلا بیلو جهتونو هڅول، د پرمختګ په مخکی پراته خنډونه له منځه وړل د همدی کار دی، او دا ټول باید ددی لپاره سرته ورسوي چې په ښه ډول د ټولنی د وګړو خدمت تر سره شي.

خو هغه حکومت چې د ښه حکومت داری په رامنځ ته کولو کی د یو جهت په حیث مؤثر او فعال رول لوبولی شي او د ښه حکومت داری مسؤولیتونه سرته رسولی شي د هغه څه مواصفات او غوښتنی دي، که په یو حکومت کی دا مواصفات رامنځ ته شي نو مؤثر واقع کیدلی شي، دا مواصفات یو شمیر لیکوالانو په لاندی توګه په ګوته کړي دي:

**دا باید یو هڅونکی حکومت وي**

د حکومت د نوو وظایفو په اړه سیاست پوهان وایي چې دا د دی پر ځای چې تنفیذونکی وي باید تغییر او بدلون ته هڅونکی وي (Catalytic Government) او په خپله په قطار کی د تللو پر ځای توجیه کونکی وي ( Steering Rather than Rowing) ځکه چې د حکومت بنسټیزه وظیفه دا ده چې له دی څخه ځان مطمئن کړي چې مطلوب خدمات په کم مصرف او په ښه توګه ټولنی ته وړاندی شوي دي، یعنی موږ داسی یوی قوي حکومتي اداری ته اړتیا لرو چې نور جهتونه دی ته وهڅوي چې ښه خدمتونه په معیاري توګه په کم مصرف ټولنی ته وړاندی کړي، نه داسی اداری ته چې پخپله د پروژو تطبیقونکی جهت وي، دا د هغه تصور بالعکس چې پخوا د حکومت په اړه په تقلیدي او کلاسیک تصور کی قائم وه چې حکومت باید هر ډول خدمات پخپله وړاندی کړي او ددی ټولو لپاره اداری ولري.

**د محلي ادارو په واک کی حکومت**

د اوسني سیاسي فکر او تصور له مخی حکومت باید د محلي ادارو په واک او ملکیت کی وي، چې په اوسني اصطلاح کی ورته (Community Owned Government) وایي، ددی شعار باید د خدماتو د تقدیمولو پر ځای ځواکمن کول (Empowering rather than Serving) وي، او دا ځکه چې محلي ټولنی او اداری د حکومت څخه زیات د هغه ګټو ښه ساتنه کولی شي چې د دی ټولنو د افرادو پوری تړلی وي، نو په حقیقت کی همدا ټولنی اصلي مالکان او ددی ګټو حقیقي خاوندان دي، نو باید ددی خدماتو وړاندی کول همدی محلي ټولنو ته وسپارل شي.

**په رقابت ولاړ سیستم**

په دی تصور کی حکومت باید د خدماتو تقدیمونکو بیلا بیلو جهتونو ترمنځ د سالم رقابت ایجادونکی اړخ وي چې دی (Competitive Government) یا رقابتی حکومت ویل کیږي، او شعار یې باید ( Injecting Competition Rather Than Service Delivery) (د خدماتو د تقدیم پرځای د رقابت ایجادول) وی، او دا ځکه چې په هر ځای کی سالم رقابت وي هلته خدمات بهتر وي، په دی ځای کی د حکومت رول دا دی چې دا وڅاري او له دی څخه ځان مطمئن کړي چې خدمات د معیارونو سره سم تقدیمیږي.

**د لرلید او رسالت پر بنسټ اداره کیدونکی حکومت**

د ښه حکومت داری لپاره د حکومت یوه ځانګړتیا دا ده چې دا به د لرلید او رسالت پر بنسټ اداره کیږي چې دی (Mission-Driven Government) د قوانینو پر بنسټ چلیدونکی حکومت باید د لرلید او رسالت پر بنسټ جوړو مؤسساتو

باندی تبدیل شي (Transformation rule driven government to mission driven organizations) ددی معنی دا ده چی د هر حکومتي اداری بودجه باید د هغه هدف، رسالت او لرلید پر بنسټ اداره شي چی هغه يې لري، يعنی د هغه اهدافو په لاس ته راوړلو ورته بودجه ورکړی شي، نه د بودجی د بنودو پر بنسټ، ځکه چی اصل مقصد اهداف لاس ته راوړل دي د بودجی مصرف نه دی، له همدی امله د هری دولتي اداری لپاره دا شرط دی چی هغه خپل اهداف، لرلید او رسالت ولري، او دا ټول باید ډیر واضح، د تطبیق وړ او قابل پیمایش وي.

**د نتائجو پر بنسټ اداره کیدونکی حکومت**

د ښه حکومت دارۍ لپاره د حکومت څخه یوه غوښتنه او مطالبه دا ده چی دا باید د نتائجو پر بنسټ ولاړ حکومت (Results Oriented Government) وي، او شعار يې (Funding outcome not input) تمویل د نتائجو پر بنسټ نه د کړنو پر بنسټ وي، ددی معنی دا ده چی باید حکومتي اداری د حقیقي نتائجو د لاس ته راوړلو هڅه وکړي او ترکیز يې په دی وي چی څه يې لاس ته راوړي او څه لاس ته نه دي راوړي، يعنی خپل اهداف په ښه توګه د سالمی اداری له لاری لاس ته راوړي.

**د استفاده کونکو د ګټو پر بنسټ ولاړ حکومت**

ددی حکومت یوه ځانګړتیا دا ده چی دا (Customer Driven Government) د استفاده کونکو د مصالحو پر بنسټ ولاړ حکومت دی، او شعار يی (Meeting the Needs of Customers not the Bureaucracy) (د بروکراسی د ګټو د ساتلو پر ځای د استفاده کونکو ضرورتونه او اړتیاوی په نظر کی نیول) وي، او دا ځکه چی د حکومت د هری اداری د ایجاد اصل هدف او موخه دا ده چی د ټولنی وګړو ته هغه ډول خدمات وړاندی شي چی دوي يې توقع لري، او که داسی ونه کړي نو د خپل وجود مبرر له لاسه ورکوي، له همدی امله دا د ښه حکومت دارۍ یوه بنسټیزه غوښتنه ده.

**د پروژو پر بنسټ جوړ حکومت**

د ښه حکومت دارۍ لپاره د حکومت څخه یوه غوښتنه دا ده چی دا حکومت باید د صرف استهلاکي طبیعت پر ځای د آمدن پر بنسټ ولاړ حکومت (Enterprising Government) وي، په دی معنی چی د مصرف پرځای زیات د آمدن په فکر کی وي، دی کی شک نشته چی د حکومت کارونه په دوه ډوله دي یو هغه کارونه دي چی هغه عام خدمات وي له هغه څخه امدن لاس ته راوړل ممکن نه وي، او بل هغه کارونه دي چی امدن تری لاس ته راځي، ددی تصور له لاری ددی امکان شته چی د دولت ډیر کارونه او پروژی خپل مصارف پخپله پوره کړي.

**حوادثو ته پیش بین حکومت**

ددی حکومت یوه ځانګړتیا دا ده چی دا باید (Anticipatory Government) د حوادثو اټکل او تخمین کونکی حکومت وي، او شعار يې باید (Prevention rather than Cure) (د علاج پر ځای وقایه) وي، يعنی حکومت اصلا باید د راتلونکی اټکل وکړی شي تر څو د هغه حوادثو د وقوع څخه اصلا مخنیوی وکړي چی د واقع کیدو څخه وروسته يې په علاج ډیر زیات مصارف راځی، او دا هغه وخت کیدلی شي چی حکومت د خصوصي کمپنیو په روحیه کار وکړي، او ځان په تنفیذی کارونو کی زیات مصروف نه کړي، په دی کی شک نشته چی په تنفیذي کارونو کی له حد څخه زیاته مشغولتیا حکومت ته ددی فرصت نه ورکوي چی په دقیقه توګه پلان ګذاري وکړي او د راتلونکو حوادثو اټکل وکړی شي، نو له دی امله هغه همیشه د مشکلاتو د حل او علاج په فکر کی وي، د وقایی او د حوادثو د وقوع مخنیوی ورته ګران وي.

### غیر مرکزي حکومت

د ښه حکومت داری یوه غوښتنه داده چی باید حکومت غیر متمرکز (Decentralized Government) وي، ځکه د ناکامو مؤسساتو یو بنسټیز مرض همدا مرکزیت دی، ددی معنی دا ده چی ټول صلاحیتونه په یو ځای کی راجمع شي، او هیڅ چا ته صلاحیتونه ورنکړی شي، اوسنی حکومتي اداری باید ددی مرض څخه محفوظی پاتی شي، هری اداری ته د هغه صلاحیتونه او امکانات ورکړی شي چی د هغه په نتیجه کی ابتکارات رامنځ ته شي، د خلکو د صلاحیتونو څخه استفاده وشي، خلک د مسؤولیتونو تحمل ته اماده شي په ځانګړی توګه په اوسني عصر کی چی د معلوماتونو د نظام د پرمختګ په نتیجه کی معلوماتونو ته لاس رسی او د هغه په نتیجه کی د فیصلو په کولو کی ګډون ډیر اسان شوی او په دی توګه هر چا ته د خپلو صلاحیتونو د څرګندولو او وړاندی کولو امکانات هم برابر دي.

### د بازار د اړتیاو سره عیار شوی حکومت

د ښه حکومت داری لپاره د حکومت څخه یوه غوښتنه دا ده چی باید ځان د بازار د غوښتنو سره عیار کړي دی ته (Market Oriented Government) ویل کیږي، دا ځکه اړین او ضروري ده چی کوم حکومت چی خپلی فیصلی په ځانته ځان کوي هغه عموما د خپلو وګړو اړتیاوی نشي پوره کولی، نو له دی امله د کار لپاره داسی ضوابط وضع کول پکار دي چی هغه د ټولو وګړو په مخ کی وي، د هغه په اړه ټولو ته معلومات وي تر څو له دی لاری د حکومت سیاستونه وڅارلی شي[22].

### خصوصي سکتور

په ښه حکومت داری کی بل فعال او مؤثر جهت خصوصي سکتور دی، خصوصی سکتور هغه آزاد اقتصاد ته ویل کیږي چی د آزاد بازار او د توکو د قیمتونو د تعیین او ټاکنی او د توکو د انتاج او استهلاک د مقدار په ټاکلو کی د آزاد رقابت په کړنلاره تأکید کوي، او په دی توګه د دولت د رول په راکمیدلو او یا په بشپړه توګه د دولت د رول څخه په استغناء باندی منتج کیږي، او د دولت رول یواځی شکلي پاتی کیږي، همدا راز د خصوصي سکتور یو تعریف دا هم کیږي چی دا د شرکتونو او مؤسساتو د هغه لوی مجموعی نوم دی چی افراد، کورنۍ او د افرادو یوه محدوده مجموعه یې په واک کی لري[23].

د نړۍ اکثر هیوادونه په دی پوهیږي چی خصوصی سکتور هغه اساسي او بنسټیزه منبع ده چی د هر ډول محلي کاري ځواک مصروفولو او په کار اچولو لپاره اقتصادي مجالات پرانیځي، هیوادونه دا هم درک کوي چی خصوصي سکتور په اقتصادي پرمختګ، د ټولنی د وګړو د ژوند د سویي د پورته کولو او ټولنی ته د ښو خدمتونو د وړاندی کولو یوه بهترینه لاره ده، بناء اقتصاد پوهان او سیاست پوهان اوس په دی عقیده دي چی دولتونه په ځانته ځان او د خصوصي سکتور د ګډون او شراکت څخه پرته انکشاف او پرمختګ نشي کولی، له همدی امله په ټوله نړۍ کی په خصوصي سکتور او اقتصاد بازار باندی اعتماد زیات شوی دی، زیاتو مخ په ترقی هیوادونو خپل اقتصاد، مالیاتي، نقدي او تجارتي سیستمونه آزاد کړي دي، او داسی قوانین یې جوړ کړي دي چی په هغه کی د خصوصي سکتور رول ډیر قوي شوی او په اقتصاد باندی د دولت ګرفت او تسلط راکم شوی دی. په عامه توګه د خصوصی سکتور اهمیت په لاندی ټکو کی په ښه توګه څرګندیږي:

---

22 - ددی لپاره وګورئ: الحکم الراشد بین الفکر الاسلامی والفکر الغربی المعاصر ص ۴۵- ۵۱.

23 - دی لپاره وګورئ: الخوصصة والتصحیحات الهیکلیة ص ۲۰، ضیاء مجید الموسوي، لومړی چاپ، کال ۱۹۹۶م، دیوان المطبوعات الجامعیة، الجزائر.

لومړی: د خصوصي سکتور د فعالیت په نتیجه د ټولنی وګړو ته کاري فرصتونه او زمینی برابریږي، په دی کی د هری مستوی او کچی کاري فرصتونه شامل دي، د عادي او خدماتي پرسونل نه نیولی تر فني او تخصصی پرسونل پوری ټولو ته دا کاري فرصتونه او زمینی مهیا کیږي.

دویم: اقتصادي وده، انکشاف او ترقی رامنځ ته کیږي، د سرمایه ګذاری فرصتونه زیاتیږي.

دریم: په دولتي ادارو د کار فشار راکمیږی، ځکه د دولتي ادارو او خصوصي سکتور د ادارو ترمنځ مسؤلیتونه توزیع کیږي، او هره اداره د ټولنی په استقرار او پرمختګ کی خپله ونډه لري او خپل رول لوبوي.

څلورم: د خصوصي سکتور د فعالیت په نتیجه کی د حکومت په مالي وضعیت کی ښه والی راځي، په عمومي دولتي بودجه فشار کمیږي ځکه ډیری هغه سکتورونه چی که خصوصي سکتور په کښی پانګونه ونه کړي دولت به مجبور وی چی په عمومي بودجه کی ورته مبلغ مختص کړي، د خصوصي سکتور د فعالیت په نتیجه کی د تجارت (صادراتو او وارداتو) د تعادل (Balance of Trade) حالت را ښه کیږي، د خصوصي سکتور د فعالیت په نتیجه کی چی په عمومي بودجه فشار راکم شي نو ددی سره د بهرنیو قرضونو د قسطونو اداء کول اسانیږي، او د داخلي او بهرنیو قرضونو حجم راکمیږي.

پنځم: د خصوصي سکتور د فعالیت په نتیجه کی د فقر کچه راکمیږي، د دولت بودجی ته د ټیکسونو په شکل کی یوه لوی منبع په لاس ورځي چی دا پخپله د بودجی د عجز په معالجه کی مرسته کوي.

شپږم: د خصوصي سکتور د فعالیت به نتیجه کی د فساد پر ضد مبارزه کی اسانیږي او له منځه وړل یې ممکن ګرځي په دی شرط چی د فساد جرړی په حکومتي او عامه اداره کی نه وي.

اوم: د پرمختګ او انکشاف پروسه ګړندی کیږي او مؤثریت یې لا هم زیاتیږي، او ددی سره د دولت اقتصادي رول راکمیږي کوم چی د اوسنیو سیاسي مفکرینو له نظره د اقتصادي ودی لپاره یو اړین او ضروري ګام دی.

د دی حقیقت د درک کولو نه وروسته چی د یو هیواد د پرمختګ لپاره د دولتونو او حکومتونو تر څنګ په دی کار کی د خصوصي سکتور ونډه او شرکت اړین او ضروري دی، دولتونه د لاندی اقداماتو له لاری کولی شي چی د خصوصي سکتور ودی او ددی شراکت او ګډون د دوام او استمرار لپاره لاری چاری برابری کړي:

1. په عمومي اقتصادي محیط کی باید استقرار رامنځ ته کړي، په دی معنی چی د اقتصادي محیط پوری اړونده قوانین د سیاسي حکومتونو د تغییر او تبدیل سره بدلون ونه مومي بلکه دا د یوی مستمری استراتیژی برخه وي چی د دی اطمئنان په نتیجه کی خلک په خصوصي سکتور کی پانګونه وکړي.
2. بازار همیشه د رقابت لپاره پرانیستی وي، او دا هغه وخت رامنځ ته کیږي چی یو سکتور د کوم دولتي یا یو خصوصي شرکت په انحصار او احتکار کی ورنکړی شي.
3. په دی باندی تاکید صورت ونیسی چی فقیران او د کمو امکاناتو درلودونکي وګړي باید همیشه هغه مالی او فنی اسانتیاوی ترلاسه کړي چی په نتیجه کی یې دوي د ټولنی په انکشاف او انتاج کی ونډه ولرلی شي او خپل معیشی حالت هم ښه کړی شي.
4. هغه پروژی تقویه کول چی د کار زمینی برابروي، پانګونه را جلبوي، او په ځانګړی توګه فقیرو طبقاتو ته د ټکنالوژی، فنی مهارتونو او معرفت په انتقال کی مرسته کوي.
5. د قوانینو تطبق او پخپله د دولت له لوری په هغه التزام.

6. د بشري منابع وده تشویقول او داسی اسانتیاوی برابرول چی بشري منابع وده وکړي.
7. د ژوند د چاپیریال او بشري منابعو او مواردو ساتنه.

که حکومتونه چیرته دا قضایا په نظر کی ونیسی نو خصوصی سکتور وده کولی شي او په ښه حکومت داری کی خپل ونډه سرته رسولی شی.

- **د دولتي او خصوصي سکتور شراکت**

ټولنی ته د ښو خدمتونو د وړاندی کولو بهترینه لار د دولتی او غیر دولتي ادارو ګډون او شراکت( Public Private Partnership) (PPP) دی، چی ددی لاری دولت د خصوصی سکتور د مؤسساتو سره د زیربنای تأسیساتو د جوړولو او د هغه څخه د عامه خدماتو او یا هم د دولتی سکتور پوری ځانګړو خدماتو د وړاندی کولو لپاره تړونونه لاسلیک کوي، چی په نتیجه کی یې د خصوصي سکتور له لوری جوړ شوي زیربنایی تأسیسات د دولت ملکیت ګرځي او په دی توګه د هیواد زیربنایی تأسیسات پیاوړي کیږي، او د تړون په موده کی دولت د معیاري خدماتو د وړاندی کولو لپاره په خصوصی سکتور مراقبت کوي.

د خدماتو په وړاندی کولو کی د خصوصی سکتور شریکولو په نتیجه کی به د خدماتو په کیفیت کی مثبت بدلون رامنځته شي، ځکه چی د ټولنی وګړي به په ډیر لږ وخت کی ښه خدمتونه ترلاسه کړی شي، او د هغه روټین چی په یو شمیر دولتي ادارو حاکم دی له هغه څخه به ټولنه وژغورل شي، د تاجرانو او په خصوصی سکتور کی د پانګه اچونکو په مخ کی لوی مشکلات او خنډونه بی ځایه اضافی مصرفونه، غیر یقینی صورت حال، د په عامه او دولتي ادارو کی د فساد موجودیت، او د دولتی مناصبو د استغلال او د هغه څخه د سوء استفادی په نتیجه کی رامنځ ته کیدونکی ناتوانی او ضعف او د بیروکراسی بی ځایه مداخله او لاس وهنه ده، بناء د خدماتو د ښه کولو، د تجارتي او خدماتي کارونو د ودی او په هیواد کی د پرمختګ لپاره د دولتي اداری فعالیت، کفاءت، محاسبه او شفافیت ډیر اړین او ضروري دی، د خصوصي سکتور او دولت ترمنځ شراکت هغه مشکلات له منځه وړي چی د دی دواړو څخه د هر یو جهت په مؤسساتو کی موجود وي او د ټولنی وګړو ته مطلوب خدمات په ښه او مناسب ډول رسیږي.

له بل پلوه خصوصی سکتور په اداره کی د دولت سره د شریک په حیث خپل هغه اجتماعی مسؤولیت هم په ښه توګه تر سره کولی شی چی د هغه پر غاړه پروت دی، هغه د مدني ټولنو د فعالیتونو لپاره د وسائلو په مهیا کولو سره د اجتماعي مسؤولیتونو په سرته رسولو کی خپلی ونډی ته پراختیا هم ورکولی شي، ددی تر څنګ د اړتیا وړ تجاربو، فني مهارتونو، علم او معرفت او بودجی په برابرولو سره خصوصي سکتور د دولتی ارګانونو او مدني ټولنو سره په شراکت د ټولنی په پرمختګ او پرمختیایی پروژو کی پراخه ونډه درلودلی شي، د بیلګی په توګه خصوصي سکتور د بی کوره خلکو لپاره د کور جوړولو په موخه د قرضونو ورکولو، د بی وزله محصلینو لپاره د وړیا یا په قرض د تعلیمي سکالرشپونو برابرولو همدا راز په تعلیمی میدان کی د پانګ اچونی، ترینګونو د برابرولو، د ظرفیتونو د لوړولو او داسی نورو لارو خپل اجتماعي او ټولنیز مسؤولیتونه سر ته رسولی شي.

ددی تر څنګ خصوصي سکتور د کار او فعالیت په ډیرو ساحاتو کی د فساد مخنیوی کولی شي په ځانګړی توګه کله چی قوي مؤسسات ولري او مؤسسات یې په خپلو کی تنسیق ولري، همدا راز د اړونده جهتونو او مؤسساتو لپاره د معلوماتو د

نشر په نتیجه کې د دولتي سکتور په مؤسساتو کې د شفافیت د رامنځ ته کولو کې مرسته کولی شي، خو دا ټول هغه وخت ممکن دي چې د دولت له لوري لاندې قضایا په نظر کې ونیول شي:

1. د قانون حکمراني: د کارونو د تنظیم لپاره باید عادلانه قوانین وجود ولري، د قوانینو د جوړولو پروسه باید اصلاح شي، هغه مؤسسات چې قانون پرې پلې کیږي باید د قانو جوړولو په پروسه کې شریک وي، په دویم قدم کې د قانون تطبیق باید په عادلانه شکل تأمین کړی شي، که قانون په انتقائي شکل تطبیق شي (چې په یو چا تطبیق شي او بل ځوک ترې مستثنی کړی شي) نو بیا که هر څومره ښه قانون وجود ولري هغه بیا یواځې نه دا چې مطلوبه نتائج ترې په لاس نه راځې بلکه په ټولنه کې په هغه مؤسساتو کې د مظلومیت احساس تقویه کوي چې یواځې په هغوي قانون تطبیقیږي، همدا راز عدلي او قانوني اداری او ددوی سره همکاری د قانون تطبیقونکی اداری باید اصلاح وي هلته باید فساد وجود ونه لري، د فساد د نه موجودیت ترڅنګ باید کفاءت او استعداد هم ولري.
2. د ټیکسونو عادلانه او مؤثر نظام جوړول او د هغه په عادلانه توګه تطبیقول، او هغه په داسې توګه چې دولت څومره خدمات دی ادارو ته وړاندې کوي اینښودل شوي ټیکسونه باید د هغه سره متناسب وي.
3. د خصوصي سکتور پورې اړونده لوائح باید په شفافه او درسته توګه صیاغت کړی شي او عامه او دولتي اداره باید تقویه او اصلاح کړی شي، که لوائح په درسته توګه صیاغت نه شي په غلطه توګه د هغه تفسیر مشکلات او ستونزې جوړولی شي او که دولتي اداره ضعیفه او بې کفایته وي هغه په درسته توګه د تطبیق فرصت نه پیدا کوي.
4. د دولت له لوري د فساد پر ضد د مبارزې کلک هوډ، د فساد له منځه وړل، د خصوصي سکتور د کار په مخ کې د پرتو خنډونو له منځه وړل او د تعاملاتو د مصارفو راکمول یو بل اړین کار دی.
5. د داسې بازار کار ایجادول چې د هغه بنسټ په ازاد رقابت اینښودل شوی وي، فعال او مؤثر وي او د رقابت په نتیجه کې تقویه شي[24].

## مدني ټولنې

د ښه حکومت دارۍ په رامنځ ته کولو کې بل مؤثر جهت مدني ټولنې دي، مدني ټولنې څه ته ویل کیږي؟ دا څرنګه په ښه حکومت دارۍ کې مؤثر جهت او لوري بلل کیږي؟ دا هغه قضایا دي چې دلته پرې بحث کوو.

د حکومت دارۍ په نوو طریقو کې ګورو چې د نوو داسې مؤثرو جهتونو او اړخونو د شریکولو خبره مطرح کیږي چې هغه ټولنیز مسؤولیتونه پر غاړه واخلي چې د ښه حکومت دارۍ نظریه یې مطرح کوي، په دې کې مهمترین جهت مدني ټولنې دي، دا مدني ټولنې په هغه حالت کې خپل رول په ډیره مؤثره توګه لوبولی شي چې هغه ته ( Governance beyond the state) (د دولت نه ور اخوا حکومت داري) ویل کیږي، په دې معنی چې د دولت د سلطې څخه بیرون هم حکومت داري شته او مدني ټولنې باید په هغه ساحه کې رول ولوبوي، له همدې ځایه د دولت، خصوصي سکتور، او مدني ټولنو ترمنځ د شراکت قضیه مطرح کیږي، او دا شراکت ددې غوښتنه کوي چې د مدني ټولنو د مؤسساتو د اداری اسلوب او طریقه باید

---

[24] - د یو شمیر مفاهیمو لپاره وګورئ: (قیاس قوة الدولة من خلال الحکم الراشد اسقاط علی التجربة الجزائریة) د دکتور الأخضر عزی او دکتور غالم جلطی لیکنه په انترنت باندې به لاندې لینک په پی دی ایف بڼه پرته ده (http://www.transparency.org.kw.au-ti.org/upload/books/263.pdf) د مراجعی نیټه ۲۰۱۹/۲/۱۰م.

پرمخ تللی وي، او مؤسساتي اړخ يې بايد تقويه شي تر څو په دی شراکت کی خپل رول په استقلاليت سره تر سره کړی شي، نو کله چی د ښه حکومت داری او دوامداری پرمختيا په ضمن کی مدني ټولنو د رول خبره مطرح کيږي نو دا د حکومت او دولت د تضعيف په معنی نه بلکه په حقيقت کی دا د دولت او حکومت د حمايت په معنی دی.

### أ- د مدني ټولنې مفهوم

مدنی ټولنه د غربی تاريخ په اوږدو کی په بيلا بيلو معناګانو استعمال شوی ده، چی په لنډ ډول يې دلته ياونه اړينه بولم:

لومړی: مدني ټولنه د (دولت) په معنی استعمال شوی ده، او دا ځکه چی دا د اجتماعي تړون (Social contract) په نتيجه کی منځ ته راځي، او دا د طبيعي ټولنې د متقابل مفهوم په حيث استعمال شوی ده، د پخواني يوناني فکر په امتداد توماس هوبز (۱۵۸۸- ۱۶۷۹م) مدني ټولنه د حکومت په معنی بولي چی د ټولنيز تړون پر بنسټ رامنځ ته کيږي او اصل هدف يې (د ځان ساتنه او مصئونيت) او د جنګونو او په خلکو باندی د تجاوز او تيري مخنيوی دی، په دی توپير چی په يوناني فکر کی حکومت د انساني رشد يو طبيعي مرحله بلل کيده، او يواځی د ځان ساتنی په منظور منځ ته نه راتله، بلکه د طبيعي رشد يوه مرحله بلل کيدله چی انسان ورته د پختګی په نتيجه کی حتما رسيږي.

جان لاک (۱۶۶۳- ۱۷۰۴م) هم مدني ټولنه د ټولنيز تړون زيږنده بولي خو د توماس هوبز برخلاف ددی اصلي او بنسټيزه موخه د ځان مصئونيت نه بلکه ددی تړون بنسټيزه موخه د (ملکيت) ساتنه او تأمينول بولي، په دی معنی چی مدني ټولنه ددی لپاره رامنځ ته کيږي چی خلک د خپلو ملکيتونو ساتنه وکړی شي او خپل مادي ګټې تأمين کړی شي، چی په دی توګه جان لاک د مدني ټولنې مفهوم ته د امنيتي بعد ترڅنګ اقتصادي بعد هم ور زيات کړ.

د جان جاک روسو(۱۷۱۲- ۱۷۷۸م) له نظره د طبيعي حالت نه ټولنيز حالت ته انتقال د اخلاقي التزام او د فردي غوښتنو او غرايزو د پوره کولو پر ځای د عدالت د پلی کولو پر بنسټ صورت نيسي، له دی امله د (روسو) له نظره مدني ټولنه هغه قانونمنده، د اخلاقو او عدالت پر بنسټ ولاړه ټولنه ده چی هلته افراد د خپلو انفرادي غوښتونو، انفرادي خوښيو، اختياراتو او ازاديو څخه تيريږي او د هغه پر ځای د يو اجتماعي تړون پر بنسټ د ټولنی ارادی ته غاړه ږدي، نو د روسو له نظره هم مدني ټولنه د طبيعي ټولنی يو متقابل مفهوم دی د يو ټولنيز تړون په نتيجه کی رامنځ ته کيږي.

د کلاسيکو سياسی اقتصاد پوهانو لکه ادم سميت او ډيويډ ريکارډو له نظره مدني ټولنه هغه جوړښتونه دي چی د خصوصي غوښتنو ترڅنګ عمومي ګټې هم تأمين کړي، د دوي له نظره مدني ټولنه د کوم ټولنيز تړون په نتيجه کی نه رامنځ ته کيږي بلکه د ټولنو طبيعي تکامل د (تجارتي او اقتصادي ټولنی) د رامنځ ته کيدو لامل ګرځي، بناء د دوي له نظره مدني ټولنی هغه څه دي چی ازاد رقابت او سوله ييز اجتماعي تعامل ته فضاء برابره کړي، د ټولنو طبيعی تکامل د سياسي ټولنی رامنځته کيدو لپاره نه بلکه د تجارتي او اقتصادي ټولنی رامنځ ته کيدو لپاره زمينه سازی کوي، د دوي له نظره سياست او کورني ارزښتونه او تصورات انسان تر خپلی اغيزی لاندی نه راوړي، بلکه يواځی اقتصاد او خپلی مادي ګټې دي چی انسان ته سمت او سو ورکوي، بناء همدا اقتصاد د مدني ټولنی محور دی، او همدا د انسان د هڅو محور هم دی.

هيګل (۱۷۷۰- ۱۸۳۱) مدنی ټولنه د حکومت يو ابتدائی او ناقص شکل ګڼي، هغه وايي د انسانانو ترمنځ روابط په دری سطوح وجود لري (کورنی، مدني ټولنی او حکومت) د کورنۍ په سطح روابط او اړيکی د هيګل له نظره د اخلاقی تعهداتو، يووالی، عشق او حقوقو څخه د باخبری مظهر دی، د کورنۍ په دننه کی د انسانانو ترمنځ اړيکی د شخصي ګټو په محور نه را څرخيږی، بلکه هلته اخلاقيات، حقوق، محبت او احترام حاکم وي، هلته خود ګذري او د خپلو ګټو څخه تنازل او ايثار حاکم

وي، خو د هيګل له نظره انسان په همدی حالت کی نشي پاتی کيدلی، بلکه د اقتصادي اړتياو له امله بايد يوی بلی دائری ته منتقل شي چی هلته اړيکی د شخصی ګټو پر بنسټ تنظيميږي، هلته تنافس وي، هلته يو دبل څخه مخ ته کيدل وي، دلته يو انسان دی ته اړتيا لري چی ددی د ګټو څخه دفاع وکړی شي، ځکه په دی حالت کی کله فرد او انسان د دولت په مقابل کی هم قرار نيسي، دی دائری ته چی د انسانانو د ګټو څخه دفاع کوي مدني ټولنه ويل کيږي، د اړيکو دريمه دائره د دولت په ضمن کی اړيکی دي، دولت په حقيقت کی د هيګل له نظره د عمومي منافعو ساتونکی دی، عمومي منافع او ګټی کله کله د فردي ګټو سره په تصادم او تقابل کی واقع کيږي، په دی توګه هيګل د کورنۍ او دولت ترمنځ هغه واسطی او منځنۍ دائری ته مدني ټولنه وايي چی يوه بشري ټولنه ورته اړتيا لري[25].

په اوسنيو او معاصرو ټولنو کی د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګی تحولاتو په نتيجه کی چی کوم اساسي او بنسټيز تحول رامنځ ته شو هغه ته (نړيوالتوب) يا (Globalization) ويل کيږي، د تيری پيړۍ په نهمه لسيزه کی د (نړيوالتوب) د مفهوم سره د مدني تولنی مفهوم اړيکه پيدا کړه، او دا هغه وخت چی د هغه حالت په تقابل کی چی نړيوالتوب مسلط کول غوښتل، مدني ټولنی د يو مستقل جوړښت په حيث په نړيوال او سيميز نظام کی د ټولنيزی واکداری او قيادت په حيث تبارز وکړ، ځکه د ډيرو هغه جهتونو له پلوه چی د نړيوالتوب سره يې تضاد درلود مدني ټولنی يې د هغه په مقابل کی د بديلو جوړښتونو په حيث وړاندی کولی، خو په قرار قرار (نړيوالتوب) دا مفهوم هم تر خپل سيوري لاندی راوست او د هغه اغراضو او اهدافو لپاره يې تری استفاده پيل کړه چی دی پديدې د خپل ځان لپاره ټاکلي ؤ، ددی په نتيجه کی د نړيوالی مدني ټولنی اصطلاح رامنځ ته شوه.

**ب- په اوسني وخت کی د مدني ټولنی تعريف**

سره له دی چی په اوسنۍ زمانه کی د مدني ټولنی اصطلاح زياته استعماليږي خو ددی سره سره تر اوسه يې د مدلول او معنی په اړه وحدت نظر وجود نه لري، دلته د يو لړ تعريفونو يادونه کوم، تر څو  وروسته يې د ځانګړتياو په نتيجه کی په دقيقه توګه مدلول مشخص کړی شو.

لومړی: هغه بيلا بيل رضاکار تنظيمونه، انجمنونه او ټولنی چی د غړو د ازادی ارادی په غوښتنه منځ ته راځي او موخه يې د هغوي د ګټو ساتل او د هغه څخه دفاع او ساتنه کول وي، د بيلګی په توګه سياسي تنظيمونه، صنفي اتحاديی، مسلکي اتحاديی، تخصصی تنظيمونه، د مشترکو ګټو پر بنست جوړی شوی ټولنی او غير دولتي ټولنی[26].

دويم: دا تعريف د هيګل د نظريی څخه په مباشره توګه متأثر دی، وايی: مدني ټولنه د هغه مؤسساتو، فعاليتونو او جوړښتونو نوم دی چی له يوی خوا د کورنۍ (چی هغه بنسټيزه ډبره ده چی هغه د ټولنی د ټولنيز نظام او د ارزښتونو د سيستم بنسټ او بنياد مهيا کوي) او له بلی خو د دولت او د هغه د مؤسساتو  او ادارو ترمنځ د يو مرکز او منځګړي حيثيت ولري.

[25] - ددی ټولو تعريفونو لپاره وګورئ: جامعه مدنی: گفتارها، زمينه ها وتجربه ها  فصل اول از ص ۲۳- ۵۸. تاليف: کاظم علمداری، طبع (توانا) اموزشکده آنلاين برای جامعه مدنی ايران (https://tavaana.org/)

[26] - التطور الديموقراطی فی الوطن العربی، د حسنين توفيق ابراهيم يو مضمون چی د مصر څخه چاپ کيدونکی مشهوری مجلی (السياسة الدولية) په ۱۴۲ گنه کی چاپ شوی، گنه ۱۴۲، اکتوبر ۲۰۰۰م کال.

دریم: مدني ټولنه د هغه سیاسی، اقتصادي او فرهنگی مؤسساتو د مجموعی نوم دی چی هر یو یې په بیلا بیلو ساحاتو کی د دولت د تسلط څخه په آزاده توگه کار کوي تر څو خپلی بیلابیلی موخی لاس ته راوړي، چی څه یې سیاسی موخی دي لکه په ملي کچه په تصمیم نیولو کی گډون چی دا کار د بیلگی په توگه سیاسي تنظیمونه کوي، او څه یې صنفي موخی دي لکه د خپلی صنفی اتحادیی د غړو د اقتصادي گټو څخه دفاع کول، د اړونده مسلکی اتحادیې د مسلکی خدماتو د ښه کولو او د غړو د گټو څخه دفاع کول، او څه فرهنگی موخی دی لکه د لیکوالانو او فرهنگیانو ټولنی، او فرهنگی انجمونونه چی هره ټولنه او انجمن د خپلو غړو د توجهاتو سره سم په ټولنه کی پوهه او اگاهي خپروي، او څه ټولنیزی موخی دي او دا هغه ټولنی سرته رسوي چی د ټولنی په پرمختگ کی د ونډی اخیستلو په موخه ټولنیز کار د خپل فعالیت میدان گرځوي، نو ویلی شو چی د مدني ټولنی مهم عناصر په لاندی ډول دي: سیاسی تنظیمونه، صنفي اتحادیې، مسلکي ټولنی، ټولنیز او فرهنگي انجمنونه[27].

ددی پورته تعریفونو په نظر کی نیولو سره ویلی شو چی د مدني ټولنی د موجودیت لپاره د یو څه بنسټیزو عناصرو موجودیت اړین دی، کله چی دا عناصر په کومه ټولنه او مؤسسه او تنظیم کی وجود ولري نو هغه ته موږ مدني ټولنه ویلی شو، که دا عناصر وجود ونه لري نو بیا مدني ټولنی وجود نه لري ولو که ډیری زیاتی ټولنی او انجمنونه هم په څرگنده توگه په ټولنه کی وجود ولري، دا عناصر په لاندی ډول دي:

لومړی: د رضاکارانه او تطوعي کار موجودیت: مدني ټولنه د آزادی ارادی په نتیجه کی منځ ته راځي، له همدی امله دا د قرابت او کورنیو اړیکو پر بنسټ باندی د رامنځ ته شو ټولنو سره توپیر لري، لکه کورنۍ، قبیله او داسی نور، ځکه دی ډول ټولنو ته انسان مجبورا نسبت پیدا کوي، په دی کی د هغه رضا او خوښی ته نه کتل کیږي، نو چیرته چی انسان په خپله خوښه د کومی ټولنی غړیتوب قبول او مسترد نه کړی شي هغه ته مدني ټولنه نشي ویل کیدلی.

دویم: ټولنیز جوړښت: مدني ټولنه د ټولنیزو جوړښتونو او تنظیمونو مجموعه ده، چی هر تنظیم او جوړښت بیا خپل افراد او غړي لري چی په خپله خوښه او اراده یې د هغه غړیتوب د هغه شروطو سره سم خپل کړي وي چی پر بنسټ یې دا ټولنه او تنظیم تشکیل شوی وي، او دا هغه څه دي چی د عامو تقلیدي ټولنو څخه ورته ځانگړتیا وربښي، او په عین وخت کی ددی مؤسساتي حیثیت ته اشاره کوي چی دا د اوسني تمدني ژوند ځانگړتیا بلل کیږي.

دریم: اخلاقي او سلوکي ځانگړتیا: د مدني ټولنی یوه ځانگړتیا دا ده چی هغه اختلاف او تنوع مني او قبلوي، لکه څرنگه چی ځان ته حق ورکوي چی د خپلو حقوقو څخه دفاع وکړي همدا راز نورو ته هم ددی حق ورکوي چی مدني ټولنی تشکیل کړي او د خپلو مادي او معنوي حقوقو څخه دفاع وکړي، همدا راز ټول اختلافات که د یوی ټولنی په داخل کی وي او که د نورو مدني ټولنو سره یې ولري او که د مدني ټولنو او حکومت ترمنځ وي دا ټول په مسالمت آمیزه لارو، او د متقابل احترام، یو بل د تحمل، همکارۍ او سالم رقابت په فضاء کی ورته حل لټوي.

صموئیل هنتنگتن (S. Huntington) د مدني ټولنی د ځانگړتیاو په اړه وایي: دا هغه ټولنی دي چی د جمود پر ځای د هر ډول ظروفو او حالاتو سره ځان عیارولی شي، دا حکومت او نورو جهتونو ته د اطاعت او تسلیمیدو پر ځای د استقلالیت پر

[27] - د سیف الدین عبد الفتاح مضمون چی عنوانی یې دی (المجتمع المدنی والدولة فی الفکر والممارسة الاجتماعیة المعاصرة) چی په یو علمي سیمینار کی یې لوستلی وه چی عنوان یې وه (المجتمع المدني فی الوطن العربي و دوره في تحقیق الدیموقراطیة) ددی سیمینار ټول بحثونه تر همدی نوم لاندی د مرکز دراسات الوحدة العربیة، بیروت، له لوری په ۱۹۹۲م کال کی چاپ شوی دي، دد لپاره وگوری د همدی کتاب ۲۹۲۹ صفحه.

بنسټ ولاړه ده، همدا راز دا تنظیمي انقیاد پر ځای د یو خپلمنځي عقد (Contract) پر بنسټ ولاړه ټولنه ده، ددی تر څنګ د انقسام او تنازع پر ځای همغږي او انسجام خوښوي. د همدی ځانګړتیاو په نظر کی نیولو سره د مدني ټولنو د تشکل بنسټیز عناصر په لاندی توګه په ګوته کولی شو:

1. مدني ټولنه هغه منظمی تجمع ته ویل کیږي چی یو رسمي تشکل او هیکل ولري او دا یو دائمي تشکل وي یعنی مؤقت جوړښت نه وي.
2. په عمومی توګه یې هدف ربح او مادي ګټه لاس ته راوړل نه وي.
3. په مؤسساتي لحاظ د حکومت سره تړاو ونه لري، ولو که د حکومت له لوری تمویل هم شي او د دولت او د هغه د بعضی مؤسساتو څخه فنډ هم ترلاسه کړي.
4. پخپله متحرکه وي، د بل چا له لوری نه تحریک کیږي.
5. په رضاکارانه مشارکت بناء وي.
6. پخپله سیاسي ممارست ونه لري سره له دی چی د بعضی سیاسی قضایاو په اړه دریځ ولري او په ځانګړی توګه د هغه قضایاو په اړه چی په عمومي پالیسیو اغیز لري، د داسی قضایاو په اړه یې دریځ نیول طبیعي کار دی[28].

**په ښه حکومت داری کی د مدني ټولنی ونډه**

مدني ټولنه د اوسني غربی فکر نیو لیبرالیزم له مخی په دیموکراتیکو ټولنو کی ډیر اساسی رول لوبوي، بلکه ددی لاری دوي غواړي هغه مشکلات او ستونزی حل کړي چی د دیموکراسی په سیستم کی راڅرګندی شوي دي، ځکه دا فکر په دی یقین لري چی د انسان ازادي باید محدوده نه کړی شي، له همدی امله تصور یې دادی چی د حکومت تسلط تر اخیری کچی پوری راکم کړی شي، دولت باید مرکزي سلطی او واک په حیث کار ونه کړي، محلي حکومت داري باید تقویه کړی شي، د حکومت د تسلط د راکمولو په موخه غواړي چی مدني ټولنی په دی لړ کی رول ولري، او د حکومت او دولت د تسلط او واک د راکمولو لپاره تری ګټه پورته کړی شي، دوي وايي مدني تولنه د حکومت او کورنۍ ترمنځ هغه حلقه ده چی د دیموکراسۍ د تقویت لپاره باید په ټولنه کی بنسټیز رول ولوبوي، چی په دی کی دولت د واک او تسلط راکمول، د سیاسي مشارکت او ګډون تقویه کول، د بشري حقوقو ته د درناوي او التزام پیاوړي کول، د خپلو غړو د ګټو ساتنه، په خپلو ټولنو کی د دیموکراتیکو ارزښتونو د تقویي له لاری د قیادتونو روزل او ټولنی ته وړاندی کول، او په خپل منځ کی د رقیبو مؤسساتو ترمنځ د اړیکو د ټینګولو له لاری په اقتصادي سمون او اصلاح کی ونډه درلودل، او په دی توګه د دولت او مدني ژوند تقویه کول شامل دي.

له دی امله مدني ټولنی د نوي لیبرالیزم له نظره د ښه حکومت داریۍ یو بنسټیز عنصر بلل کیږي، ځکه چی د ښه حکومت داریۍ بنسټ په شفافیت، مسؤولیت، د قانون په حاکمیت، په دیموکراتیکی هدفمندی محاسبی باندی ایښودل شوی دی، ددی ترڅنګ ښه حکومت داري په دی بناء ده چی نظام تر کومی کچی د ټولنی غوښتنو ته په ځواب ویلو کی مؤثریت (Effective) لري او په دی اړه څومره فعال (Efficient)دی. مدني ټولنه د لاندی لارو د ښه حکومت اردۍ په راوړلو کی فعاله ونډه درلودلی شي:

---

[28] - ددی لپاره وګورئ: ادارة شؤون الدولة والمجتمع، ص ۲۳ د جمعة او سلوی شعراوی لیکنه، مرکز دراسات واستشارات الادارة العامة، قاهرة، مصر.

- **د قانون حکومت داري او د تابعیت حقوق**

د اوسنی متمدنی ټولنی بنسټ په دی اینبودل شوی چی د ټولنی د وګړو د ټولنیزو حقوقو، او د هغوی د شخصي او عمومی ازادیو د رعایت تر څنګ په کښی د قانون په چوکاټ کی د تابعیت مساوي حقوق لازم او ملزوم ګڼل کیږي، له همدی امله په نننۍ زمانه کی د یو حکومت مشروعیت په همدی معیار تلل کیږي چی د قانون پر وړاندی د یو هیواد تابعیت لرونکي په حقوقو او واجباتو کی تر کومی کچی یوشانته او مساوي دي، او تر کومی کچی بنسټیزی ازادی خوندي دي، او تر کومی کچی په حکومت داری کی مشارکت او ګډون وجود لري؟ او د قانون او حق حکومت داري هغه وخت منځ ته راتلای او تثبیتیدلی شي چی د حکومت او مدني ټولنی ترمنځ په متعادلو اړیکو د عملي التزام ضمانت وجود ولري، او هغه وخت دا کار شونی دی چی د مدني ټولنی مؤسسات د دیموکراسۍ، بشري حقوقو، د منصفانه او عادلانه پرمختګ او انکشاف د رامنځ ته کولو لپاره کار وکړي، او د حکومت دارۍ د ښه کولو لپاره د عدل، ټولنیزو خدماتو، لامرکزیت، ملي مشارکت، حکومتونه د خپلو کړنو او خپلو مسؤولیتونو په اړه محاسبی ته د تابع کولو په اړه بیلا بیل اجراءات سرته ورسوي. په دی لار کی مدني ټولنی بنسټیز رول لوبولی شي چی د قانون حاکمیت ته لاره هواره کړي، او په عامه ادارو د فشار له لاری ددی زمینه برابره کړي چی د قانون په وړاندی ټول خلک باید برابر واوسیږي، همدا راز ټول وګړي او د هیواد ټول اتباع د تابعیت د حقوقو څخه برخمن وي.

- **د سیاسی نو سازی تسریع او دیموکراسۍ ته مشروعیت ورکول**

د مدني ټولنی مؤسسات د سیاسي پروسی په انکشاف او نوي کولو کی ډیر مهم رول لوبوي، په ځانګړی توګه په هغه ټولنو کی چی وروسته پاتی دي او یو ناسالم سیاسی حالت په کښی حاکم دی، او سیاسي ممارست او حکومتي اداره هم پکښی سمه نه ده، سره له دی چی هلته حاکم نظامونه کوښښ کوي چی د دیموکراتیک بدلون نه وروسته د سیاسي اصلاح په لور ګامونه پورته کړي، غواړي چی د احزابو تعدد ومني، بشري حقوقو ته احترام ولري، د سیاسي ګډون او مشارکت پرمخ دروازی پرانیځي، د انتخاباتو په نتیجه کی د واک ادلون بدلون ومني، خو ددی ټولو سره سره دا اصلاحات ډیر محدود پاتی کیږي او حساس مسائل تر پوښښ لاندی نه راولي لکه د واقعي سیاسي واک د لیږد قضیه[29]، له همدی امله ټول سیاسي نوښتونه د جمود سره مخ وي او سرسري اجراءات بلل کیږي چی ټولنه یې د ګټو څخه هیڅ استفاده نشي کولی.

په داسی حالاتو کی مدني ټولنی ته اړتیا پیدا کیږي تر څو خپل مسؤولیت درک کړي او خپل استعدادونه په کار واچوي او بدائل وړاندی کړي، او د واقعي دیموکراسۍ په رامنځ ته کولو، د بشر د حقوقو په ساتنه او په ټولنه کی د بنسټیزو ازادیو د ساتنی له لاری د ټولنی په دوامدار پرمختګ کی اساسی رول ولوبوي، یا په بل تعبیر هغه مشکلات چی دیموکراسي ورسره مخ ده، او کوم توقعات چی ددی سیاسي سیستم څخه خلکو درلودل او اوس یې په یو شمیر ټولنو کی د تحقق څخه عاجز دی هغه باید د مدني ټولنی د مؤسساتو له لاری لاس ته راوړل شي.

---

[29] - په ځانګړی توګه په هغه هیوادونو کی چی تر اوسه پوری پکښی شاهي نظام حاکم دی، هلته انتخابات هم سرته رسیږي نور هر ډول ظاهري کارونه د دیموکراسۍ د اصولو سره سم سرته رسیږي مګر واقعي واک د شاه سره وي، لکه اردن، المغرب او داسی نور هیوادونه.

### ❖ د استبدادي تعامل څخه د وګړو ساتنه

د نیولیبرالیزم له نظره د (واک) او (معرفت) ترمنځ یو دیالیکتیکي اړیکه وجود لري، ددی فکر له نظره د (نوي دولت) مؤسسات باید د افرادو غوښتنو ته زیات استجابت ولري، او دا ځکه چی دا مؤسسات مثبت ګرا مؤسسات دي او ددی لپاره رامنځ ته شوي چی بشري حقوق خوندي کړي، د خپلو وګړو حقوق، د هغوي امنیت او سلامتي وساتي او د قانون حاکمیت تثبیت کړي، ددی فکر پر بنسټ (مشروع نظام او دولت) هغه دی چی د قانون په دائره کی کار کوي تر څو خپل اتباع د استبدادي تعامل څخه وساتي.

خو کله چی یو نظام او یو حکومت د خپلو مجبوریتونو او التزاماتو له امله دا مسؤولیت نه پوره کوي، نو په داسی حالت کی بیا نیولیبرالیزم چی کومه طرحه وړاندی کوي هغه د خصوصي سکتور او مدني ټولنی د مسؤلیتونو زیاتیدل دي، او د حکومت د مداخلی مخنیوی او راکمول دي، او د داسی میداني او عملی فعالیتونو په لاره اچول دي چی د (واک) بیلا بیل اشکال رامنځ ته کړي او په دی توګه توازن رامنځ ته کړي.

ددی ترڅنګ د مدني ټولنی مؤسسات په سیاسي میدان کی د حکومت او نظام د محاسبی مسؤولیت او د هغه پروژو د مصداقیت په اړه پوښتنه کول پر غاړه لري چی حکومت یې د لاس لاندی لري، همدا راز د حکومت د کارونو څارنه د نادرستو فیصلو د بدلولو لپاره په حکومت باندی د رأی عامه د راپارولو له لاری فشار واردل هم د مدني ټولنو په مسؤولیتونو کی شامل دي. په دی توګه وینو چی د مدني ټولنو مسؤولیت یواځی په څو خیریه کارونو او خدماتي میدان کی نه راخلاصه کیږي بلکه دا په ښه حکومت داری، د ټولنی په اقتصادي پرمختګ، درستی قانون ګذاری او داسی نورو میدانونو کی ډیر مؤثر رول لوبوي[30].

### ایا د مدني ټولنی تصور دیموکراسي ژغورلی شي؟

داسی ښکاری چی د مدني ټولنی د تصور د مطرح کولو بنسټیزه موخه د دیموکراسۍ د نظریی تکمیل او د هغه یو لړ مشکلاتو لپاره حل وړاندی کول ؤ چی د معاصری نړۍ دیموکراتیکه سیاسي ټولنه ورسره لاس او ګریوان ده، دا مشکلات په دی تأکید کوي چی اوسنۍ سیاسي ټولنی په واقعي معنی دیموکراتیکي نه دي، او د سیاسي فعال وګړي تصور د دیموکراسۍ تضمین نشي کولی ځکه چی اوسنی دولت په حقیقت کی د هغه هیواد د اتباعو په توان او وسع کی نه دی، نو دا کار باید مدني ټولنه وکړي.

باید وګورو چی مدنی ټولنه ترکومی کچی د دیموکراسۍ موجوده ضعفونه او نقائص معالجه کولی شي، ددی لپاره دا اړینه ده چی د دیموکراسۍ اوسني مشکلات او نقائص په ډیر لنډ ډول دلته یاد کړم:

1. اکثره دیموکراتیک نظامونه په متفاوتو کچو د اداري او مالي فساد، د مال دارانو او زورواکانو د نفوذ او د فریب کاریو او حقائقو باندی د پردی اچولو څخه خالي نه دي.
2. د دیموکراتیکو نظامونو په جوړولو او رامنځ ته کولو کی د هیواد د اتباعو د ګډون او د مشارکت کچه ډیره محدوده ده، ځکه چی لومړی خو ډیر کم شمیر خلک رأیه ورکوي او بیا د ورکړ شوو رایو په یو فیصدې باندی حکومت تشکیلیږي.

---

[30] - دی لپاره وګورئ: الحکم الراشد بین الفکر الغربي والاسلامي ص ص ٦٦- ٧٥ مخکی تیر شوی مصدر.

3. د مهمو او اساسي قضایاو په اړه په تصمیم نیولو کی ملتونه ډیره کمه ونډه لري، ځکه اکثره تصمیمونه د ولس د یو کمی فیصدۍ تمثیل کونکی حکومتونه نیسي او نوری لاری وجود نه لري چی ولس په تصمیم نیولو کی شریک واوسي.
4. د معقدو او پیچیده سیاسي او اقتصادي مسائلو د ادراک امکانات د عامو وګړو لپاره ورځ په ورځ را په کمیدو دي، ځکه د شخصي مشکلاتو د زیاتوالي له امله ددی مسائلو په اړه د فکر ، بحث او تحقیق کولو فرصت د خلکو څخه سلب شوی دی، او له بله پلوه ددی مسائلو په اړه د ابهام کچه هم په لوړیدو ده، او کله چی څوک ددی قضایاو عمق ته ونه رسیږي څرنګه ممکن ده چی د هغه په اړه په تصمیم نیولو کی ګډون وکړي.
5. د ټولنیزو اړیکو د وسائلو او د رسنیزو لویو لویو ادارو رامنځ ته کیدل، او د عامو خلکو په اذهانو د اغیزی مؤثر او پیچیده کړنلارو د ایجادیدلو حقائقو ته رسیدل نور هم ستونزمن کړي دي.
6. د حکومتونو او اقتصادي غول پیکرو جهتونو په لاس کی د حقائقو د پټولو، خلکو ته د فریب ورکولو، او د واقعیتونو د تحریفولو ... توان ورځ په ورځ په زیاتیدو دی.

په داسی حالاتو کی د مدني ټولنی څخه ددی توقع کیږي چی د سیاسي مشارکت او ګډون کچه به پورته کړي، او هغه مشکلات او ستونزی چی د قانون ګذاری او حقوق بشر او قانون ته د احترام، په قانون ګذارۍ کی د ګډون او مشارکت په میدان کی رامنځ ته شوي دي مدني ټولنی به یې رفع کړي، مګر داسی ښکاری چی دا کار د حقیقت څخه لیری دی، ځکه چی:

لومړی: د مدني ټولنی مؤسسات که په مخ په پرمختګ هیوادونو کی په قوت سره وجود نه لري، مګر په پرمخ تللو هیوادونو کی ډیر په قوت سره وجود لري، هلته سیاسي قوي احزاب وجود لري، ورځپاڼي، مسلکي اتحادیي، صنفي اتحادیي، مذهبی او غیر مذهبي انجمنونه، د بشر، ښځو، او اطفالو د حقوقو څخه مدافعی ټولنی او داسی نور په پوره قوت سره په هغه ټولنو کی وجود لري، مګر ددی سره سره دیموکراسي هلته هم د هغه مشکلاتو سره لاس او ګریوان ده چی مخکی مو ورته اشاره وکړه، نو له دی ثابته شوه چی د دیموکراسۍ د مشکلاتو حل په دی که نه دی چی د مدني ټولنی مؤسسات تقویه کړی شي، ددی مشکلاتو حل باید په کوم بل ځای کی ولټول شي.

دویم: بله خبره دا چی څه ضمانت وجود لري چی هغه مشکلات چی د دیموکراسۍ په مخکی یې د مشکل په حیث تبارز وکړ د مدني ټولنی د مؤسساتو په مخکی به نه راولاړیږي، د مدني ټولنی مؤسسات به څرنګه د زورواکانو او مالدارانو د اغیزو نه محفوظ پاتی شي، څرنګه به د فریب کاریو، د حقائقو د مسخ کولو، د حقائقو د پټولو څخه ځان وساتلی شي، شاید د مدني ټولنی مؤسسات افرادو ته د فریب ورکولو لاری لږي مشکلی کړي خو هغه بندولی نه شي، کله چی د مدني ټولنی مؤسسات رامنځ ته شي هلته د فریب او چل ول اسالیب هم پیچیده شي، د بیلګی په توګه په غربي نړۍ کی مدني ټولنه ډیره غښتلی ده خو په هماغه اندازه د هغه سره د تعامل لاری او اسالیب هم پیچلی شوي دي[31].

---

[31] - ددی لپاره وګورئ: دین وجامعه مدنی (په فارسی ژبه) لیکوال: احمد واعظی، مجله کتاب نقد، ص ۲۱۸ دا لیکنه په لاندی لینک باندی په انترنت خپره شوی ده :
(http://ensani.ir/file/download/article/20120327175230-3045-10.pdf)

### اتم: حکومت داري او دوامدار انساني پرمختګ

د ښه حکومت دارۍ مفهو د دوامداره بشري پرمختګ (Sustainable human development) سره تړلی دی، ځکه همدا ښه حکومت داري ده چې اقتصادي پرمختګ په دوامداره بشري پرمختګ بدلولی شي، د اقتصادي پرمختګ څخه اصلي موخه هم همدا بشري دوامداره پرمختګ لاس ته راوړل دي، که چیرته اقتصادي پرمختګ په بشري پرمختګ منتج نه شي هغه په حقیقت کې پرمختګ نه دی، له همدی امله د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) چې د څو کلونو راهیسی د بشري پرمختګ په اړه کوم راپورونه خپروي هغه ټول د ژوند د نوعیت په مفهوم او د پرمختګ په پروسه کې د انسان په محوریت باندی راڅرخیږي، او د همدی امله ملګرو ملتونو چې د هیوادونو د تصنیف کوم معیارونه ټاکلي هغه هم د بشري پرمختګ معیارونه دي لکه (د ولادت په وخت کې د عمر تخمین، د فرد د حقیقی امدن اوسط، د صحی خدماتو کیفیت، د تعلیم او تحصیل کچه او کیفیت او داسی نور) په دی لړ کی لاندی بنسټیزو نقطی د پام وړ دي:

1. اقتصادي پرمختګ یواځی د دوامداری بشري پرمختیا یوه وسیله ده، پخپل ذات کی کوم هدف نه دی، له دی امله ښه حکومت یواځی د اقتصادي پرمختګ په لاس ته راوړلو اکتفاء نه کوي، بلکه ځان د هیواد د اتباعو د ژوند د ښه والی لپاره د وضع کړی شوو معیارونو او شاخصونو د لاس ته راوړلو څخه مطمئن کوي، دا شاخصونه یواځی مادي شاخصونه نه دي چې مادي پانګه معلوموي، بلکه دا معیارونه او شاخصونه په بشري منابعو کی د اړینی پانګونی کچه معلوموي، د بیلګی په توګه صحت او تعلیم هغه مصارف دي چې حکومت او دولت یې تحمل کوي مګر دا په حقیقت د اوږدی مودی هغه ضروري پانګونه ده چې د یو لوی شمیر اتباعو ژوند ورسره ښه کیږي.
2. بشري دوامدار پرمختګ په حقیقت کی یو دیموکراتیک پرمختګ دی چې غواړی یو عادلانه ټولنیز نظام رامنځ ته کړي، او د هیواد د اتباعو د پراخه مشارکت او ګډون، د مهمو اقشارو او ټولنو توانمند کولو، د هیواد د اتباعو لپاره د فرصتونو او چانسونو د زیاتوالی له لاری د هغوي بشري ظرفیتونه لوړ کړي، د فرصتونو او چانسونو موجودیت په دی معنی دی چې دی وګړو ته ازادی، د معرفت او علم ترلاسه کول او مؤسساتی توانمندي ترلاسه ده.
3. د دوامدار بشري پرمختګ په مفهوم کی د (دوامداره) معنی دا ده چې دا پرمختګ باید یو عادلانه پرمختګ وي، چې په ملي کچه باید ټولی سیمی او ټول ملیتونه تری برخمن وي، په نړیواله کچه د فقیرو او ثروتمندو هیوادونو ترمنځ د ثروت او مال د عادلانه توزیع غوښتنه کوي، او د زمانی په لحاظ هم د اوسني نسل او هم راتلونکو نسلونو د ګټو په عادلانه توګه رعایت کوي، او دا ټول ددی غوښتنه کوي چې باید د هیواد ټول اتباع په دی کی ونډه ولري، او دا ونډه او ګډون هغه وخت مؤثر او فعال کیدلی شي کله چې د هیواد ټول اتباع او په ځانګړی توګه فقیران او د ټولنی لویدلی قشر توانمند کړی شي، او د خپل مسؤولیتونو په پورته کولو او د خپلو واجباتو د پوره کولو او د خپلو حقوقو څخه د دفاع کولو جوګه شي.
4. د هیواد د اتباعو د توانمند کولو او د هغوي د اختیاراتو د پراخه کولو غوښتنه دا ده چې په بیلابیلو کچو او بیلا بیلو شکلونو د دوي ګډون تقویه کړی شي د بیلګی په توګه د حکومتي مؤسساتو لپاه په عامو ټاکنو او انتخاباتو کی ګډون، د سیاسي احزابو او ګوندونو د رول د مؤثریت له لاری، د احزابو د تعدد او ددوی ترمنځ د سالم رقابت له لاری، د مسلکي او صنفي فعالیتونو د ازادی، او د مدني ټولنی د مؤسساتو د استقلالیت له لاری دا ګډون او مشارکت تقویه کیدلی شي.

5. د ښه حکومت دارۍ تر سیوری لاندی د دوامدار بشري پرمختګ لپاره لاندی پنځه بنسټیز معیارونه او شاخصونه ټاکل شوي دي:

أ. توانمندي (Empowerment) د هیواد د اتباعو ظرفیتونه او اختیارات دومره پراخول چی عملا په هغه تصمیمونو کی شریک شي د دوي د ژوند پوری تړلی دي او د دوي ژوند تری متأثر کیږي.

ب. همکاري (Cooperation) د همکاری څخه هدف اړین ټولنیز تفاعل دی، نو په طبیعی توګه په دی کی خپلی ټولنی ته انتساب او په هغه کی ذوب کیدل شامل دي.

ج. په توزیع کی عدل او انصاف (Equity) په دی کی یواځی د ثروت او آمدن توزیع نه ده بلکه په دی کی د امکاناتو او فرصتونو عادلانه توزیع هم شامله ده.

د. دوام (Sustainability) د دوامدار بودن معنی دا ده چی باید د اوسنیو نسلونو ضرورتونه او اړتیاوی پوره کړی شي خو دا باید د راتلونکو نسلونو په ژوند ناوړه او سلبی اغیزی ونه لري.

ه. د امنیت احساس (Security) په دی کی د ژوند په اړه د امنیت احساس شامل دی چی انسان باید د هیڅ ډول تهدیدونو، متعدي امراضو ظلم او د خپل کور کلی پریبنودلو باندی تهدید نه شي.

6. د ملګرو ملتونو له نظره د ښه حکومت دارۍ پر بنسټ باندی ولاړه دوامدار بشري پرمختګ په لاندی دوه بنسټیزو محورونو باندی راڅرخیږي، چی لومړی یې د بشري ظرفیتونو په داسی توګه لوړول دي چی د هغی له لاری انسان د انساني رفاه لوړی سویی او کیفیت ته ورسیږی چی په دی کی د ښه صحت سره اوږد ژوند، د علم او معرفت لوړه کچه، او د هر ډول تبعیض نه پرته ټول انسانانو ته د ازادۍ د نعمت څخه برخمن کیدل، او دویم یې د انساني فعالیت په ټولو میدانونو کی باکفایته انساني کدرونه توظیفول دي، ډیری نړیوالی اداری د ښه حکومت داري معیارونه د حکومتونو د فعالیتونو د ارزونی لپاره د معیار په توګه استعمالوي.

7. واقعي ښه حکومت داري هغه وخت رامنځ ته کیږي دا لاندی اهداف تر سره شي:

أ- د قانون په وړاند د ټولو خلکو یو شانته والی او مساوات.

ب- په مؤثره او فعاله توګه د قانون تطبیق (چی استثناءات ونه لري او په انتقائي توګه تطبیق نه شي).

ت- د هیواد دهر وګړي لپاره ددی بشپړ فرصتونه برابر وي چی خپل ځان ثابت کړي او خپلی توانایی په کار واچولی شي، چی د هغه په وړاندی هیڅ ډول تبعیض، محسوبیت او فساد مانع ونه ګرځي.

ث- چی حکومتي اداره فعاله او مؤثره وي او کفاءت ولري.

ج- چی اداره انتاج ولري او شتمنی بی ځایه مصرف نه کړي[32].

**نهم: د پای خبری**

په تیرو کرښو کی مو ولوستل چی ښه حکومت داري څه ته وایي؟ معیارونه یې څه دي؟ د ښه حکومت دارۍ په راوستلو کی ګډون کونکي جهتونه کوم دي؟ او دا کله رغنده او مؤثر رول لوبولی شي؟ ښه حکومت داری په معاصر سیاسي فکر کی یوه نوی طرحه ده، او په حقیقت کی د هغه ستونزو د حل لپاره مطرح شوی ده چی په موجوده سیاسي نظام کی رابرسیره

[32] - د تفصیل لپاره وګورئ: الحکم الرشید (الأبعاد والمعاییر والمتطلبات) ص ۹- ۱۰ د. نبیل البابلی، المعهد المصري للدراسات، د صدور نیټه ۹ جنوری ۲۰۱۸م، په لاندی لینک نشر شوی (https://eipss-eg.org/wp-content/uploads/2018/01/الحکم-الرشید-الأبعاد-والمعاییر-والمتطلبات.pdf)

شوی وی، او ددی لپاره طرحه شوی چی سیاسي اصلاحات او ښه حکومت داري د بشري پرمختګ سره وتړي، په دی کی ډیری بنسټیزی موخی ډیری ښه او انساني موخی دي چی د لاس ته راوړلو لپاره یې باید هر ډول کوښښ صورت ونیسي، یو لړ موخی او اهداف چی د لیبرالیزم د تصوراتو سره سمی مطرح شوي دي، هغه تعدیل ته اړتیا لري او په اسلامي ټولنو کی هغه ډول تفسیر ته اړتیا لري چی د اسلامي ټولنو د بنسټیزو معتقداتو سره په تعارض کی واقع نه وي، خو ددی موخو د لاسته راوړلو لپاره چی کوم میکانیزم غوره شوی دی شاید په ډیرو برخو کی تعدیل ته اړتیا ولري.

اسلامي نړۍ باید د انساني فکر د ټولو منتجاتو او لاس ته راوړنو سره داسی تعامل وکړي چی د هغه د مثبتو اړخونو څخه استفاده وشي او د منفي اغیزو څخه یې ځان وساتل شي، د انساني فکر منتجات نه د یو وړانده او مقلد ملت په حیث د فهم څخه پرته خپل کړی شي، او نه هم د یو جامد ملت په حیث په مطلقه توګه مسترد کړی شي، د همدی اصل سره سم د ښه حکومت دارۍ اصول او میکانیزم هم باید وڅیړل شي، او دا هم باید بحث شي چی کوم نقاط یې د اسلامی ټولنو د معتقداتو سره توپیر لري هغه باید تعدیل کړی شي، همدا راز دا باید وڅیړل شي چی کوم میکانیزم د ښه حکومت دارۍ د اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره په غربي نړۍ کی وضع شوی دی تر کومی کچی په اسلامي نړۍ کی د فعالیت وړتیا لري، دا کار په دی اړه ډیرو نقدي بحثونو او څیړنو ته اړتیا لري، که دا کار مو وکړی شو موږ خپلی ټولنی د پرمختګ لوړو څوکو ته رسولی شو، ځکه دلته د وسائلو کمبود نشته دلته په واقعي توګه د اداری او پالیسیو مشکلات وجود لري.